هغه ددغو ډلو اودنجيب ترمنځ په روغه جوړه كي كوشش كوي او داهغه – بلكي داكار په سلوكي سل دجهاد په

> دكابل درژيم اوپوځ ترمنځ مناسبات سخت خړپړدي پوځ نورله جنګه ستړي دي، هغوي نورنه غواړي چې دنجيب په خاطريې ويني توي شي.

كوي چې له دوي نه دي يومشترك ائتلافي حكومت جوړشي، عجيبه داده چې ځيني داسلام مدعي خواكونه ګوري چې په خاص حالت كي بې سردغربيانو له لستونې نه راووځي اوهمغه څه زمونږ دجهاد پرضد كوي چې غربيان بې كوي، كومه پاليسي چې غرب زمونږ دجهادپه خلاف غوره كوي، دوي همغه اختياره وي، داِئتلافي حكومت لپاره هلي ځلي اصلاً دغربي استعماري هيوادونو له خوا نه پيل شوي. ځيني اسلامي ملكونه هم چې استقلال اوآزادي نلري، ته په خپلو داخلي امورو كي اونه په بين المللي سياست كي هغه هم پدي قطار كي راغلي او دادي ګوروچي ځيني نورچي داسلام دعواهم كوي ګورو چې له غرب سره پدي توطيه كي دجهاد په خلاف شريك شوي. تاسواوري چې يوخاص ملك كي اوس دنجيب دنمايندګانو اوددغو ډلو ترمنځ خبري اتري رواني دي اوهغوي صريحاً وايي چې مونږ دنجيب ترړياست لاندي په يومؤقت حكومت باندي اعتراض نلرو.

داخو هغه څه دي چې دراډيوله لاري بې وايي په پټه چې دهغوي په منځ كي كوم توافق دي دايېله خبره ده. هغه الفاظ دوي ندي څرګندكړي.

داخو ډيرمحتاطانه بيان دي چې دراډيو لپاره تنظيم شوي. ترڅويه ولس كي حساسيتونه راونه پاريږي. پټ او سري توافقات ترديته هم شرم آوره دي يوڅوك چې دراډيو له لاري نه په دي باندي اعتراف كوي چې دنجيب ترړياست لاندي په يوائتلافي مؤقت حكومت باندي اعتراض نلري، دامي، اوريندته تيارودي، تاسوله ديته قياس كولاي شي چې په پټه كي به ددوي ترمنځ توافقات څنګه وي؟

داهماغه خلك دي چې تيرون ورځي پوري به بې ويل چې موږله نجيب سره خبري اتري نذي كړي، ناسته دي خبري شوي، تعهدات شوي، په بارباړهيئاتونه تبادله شوي، مستقيماً ليدني كتني شوي، ولي دملت له ويري نه هغوي داجرئت نشو كولاي چې اعتراف وكړي چې له نجيب سره خبري اتري رواني دي تن پس له پرله پسي خبرواترو توافق ته رسيږي خو په دغو الفاظو خپل توافق بيانوي چې كه دنجيب ترړياست لاندي يومؤقت حكومت دبې طرفانو په لاس جوړشي دوي و...اندي اعتراض نلري، ددي معنې داده چې همغه ائتلافي حكومت چې نجيب له يوكال نه دمخه اعلان كړي و، اودهغه لپاره هلي ځلي پيل شوي وي، غربيانو داكوشش كاوه اويه غرب پوري تړلوملكونو داكوشش كولو، اوس كال بعد همدغه ډلي مجبوريږي چې هغه برېنډ كړي، نوربې پټ ساتلي نشي، مجبوردي چې پرهغواعتراف وكړي.

زه باورلرم چې دښمنان له دي توطئې نه څه نشي ترلاسه كولاي. دانشي عملي كولاي. دابوبې حاصله كوشش دي. دابې فائدي هلي ځلي دي. داپه داخل كي دتطبيق مجال نلري. زمونږ دياايمانه مجاهدينو په موجوديت كي څوك په افغانستان كي داسازش نشي كاميابولي. خوداسازش په افغانانو كي مجاهدين په څو ډلو اوموافقوكي ودروي او دهغوي مواقف به نورله پردي نه راووځي، بريندبه شي، ټول ولس ته به څرګندشي، يوه هغه ډله چې تل دحكامو په څنګ كي وه په داخل كي دسلطان اودزمامداريه خدمت كي وه اويه بهركي په لويو طاقتونو پوري تړلي وو. هر هغه حاكم چې دي بې په خپل څنګ كي منلي، دهغه اطاعت ته تيارشوي، كه دا ظاهر و اوكه دانجيب هغوي كه پرون په انګريزانو پوري تړلي وو، نن په امريكايانو پوري تړلي دي. داډله طبيعي ده چې دپيشويه هكله مستقله اراده نلري.

نوردهغه جهت اوموقعيت ټاكي. نه ثابت اصول لري – نه د پيشو په ارتباط دحلال او حرام پرواساتي داډله به خامخا د دغوسازشونو ملاتړكوي، دا به سازشونوكي ملوث وو اوملوث به وي! دهغوي ژوند اويقا په همدغو سازشونوكي ده. دادهغوي فطرت اوطبيعت دي. خو الحمدالله ددوي رول په جهادكي دومره ضعيف دي چې كه دوي له مجاهدينو نه تجريد شي اويا ددښمن په څنګ كي ودريږي نه يواځي داچې مجاهدين پري كمزوري كيږي نه – بلكي داكار په سلوكي سل دجهاد په ګټه دي. ښه دي چې دهغوي له څيرونه پردي كوزې شي. زمونږ ملت هغوي وپيژني ترديره حده پوري زمونږ ملت هغوي پيژندلي – ولي دا دالله سنت دي چې دهغوي له مخونو ته به ملمع پردي ټولي راكوزوي اوددهغوي حقيقت به ټولو خلكوته برينډوي.

دوهمه ډله هغه ضعيف النفسه اوضعيف الاراده كسان دي چې په خپلو اصولي موافقواو اصولو داصراراوټينګارجرئت نلري. شرايطوته په آساني تسليميږي.

فشارونو ته سرټيټوي چې كوم لوري ورته دروند ويريښي په همغه خواكي ودريدل غوره ګڼي.

پدي ډلي هم حساب ندي پكار. لله الحمدداسي ډلوهم خپل اعتبار په قوم كي له لاسه وركړي، حتي په خپلو مجاهدينو كي هم دهغوي حيثيت ختم شوي، چې

> كه هرڅوك پخپل كلي كي بيرغ اوچت كړي اوهلته يوحكومت اعلان كړي، داخوملوك الطوايفي شوه اودكونړ په څيرلس ګونه دولتونه جوړيږي.

دقضاياو په ارتباط دهغوي موقف مجمل دي. په جرئت اوصراحت سره خپله خبره نشي كولاي. دسازشونو سره خوځيږي اوچې هره پله درنه وګوري همغه طرف ته ودريدل غوره ګڼي. دغوډلو هم خپل اعتبارله لاسه وركړي. زه نوم نه اخلم له همدغو ډلو څخه يوه ډله داسي ده چې نن چې څوك دكابل رژيم ترڅنګ دمليشي په حيث جنګيږي اكثريت داملېشي دهمدغي ډلي ده. كه دا له هرات نه راغلي – كه دا له فارياب، فراه اوجوزجان نه راغلي كه دا دتخار اودكابل له شاوخوا نه راغلي او مونږ ته همدا پيغور راكول كيږي چې دغه دي ستاسو په خلاف دډلاتي تنظيم مجاهدين جنګيږي چې پرون مجاهدين وو نن دمليشو په څنګ كي منظم شوي، تاسو د مليشو الويه لويو اومشهور دغښي موقف لري. مونږ ګومان كاوه چې شايد ددوي دمسلح كسانو له رژيم سره دانضمام وجه داوي چې ددوي په منځ كي اداره اوپرافرادو كنترول څه ضعفونه لري.

خو اوس مونږ پوهيږو چې موږاشتباه كړي وه دا اصلا ددي ډلي اصلي طبيعت دي.

زه باورلرم چې ددغوډلو هم پروا نه ساتو ددوي نه هم تشويش نلرو.

دريمه ډله هغه ده چې په خپلو اصولو ټينګ ودريږي هرڅه مني خوله خپلو اصولي دريځونو اوموافقونه تنازل نه كوي. ديته تيارندي چې له دښمن سره سازش وكړي.

شكست مني مرګ مني خوله اصولو نه تنازل نه مني اصلا هغه ديته شكست وايي چې له خپلو اصولو نه تنازل وكړي – له خپلي لاري نه منحرف شي. هغه داخبره اصلي شكست ګڼي داشكست نه ګڼي چې دهدف په لاري كي دي قرباني شي – هغه شهادت شكست نه ګڼي هغه مؤقتي ماتي شكست نه ګڼي هغه له ستونځو كړاوونو اوله محاصرو سره مخامخ كيدل شكست نه ګڼي – بلكي دهغه له نظره شكست داوي چې ته له خپلو اصولي مواقفو نه تنازل وكړي

> غرب نه غواړي چې اسلام دي دېوه قوت په حيث سرراوچت كړي اوځواكمن اسلامي حكومتونه دي جوړشي.

دښمن سره سازش وكړي او له خپلو اصولو نه راكوزشي. ددښمن شرايطو ته سراړابيټ كړي. زه باور لرم چې دافغانستان ددي مبارزي دكشمكش په ميدان كي به يواځي همدغه ډله سرلوري پاتي كيږي.

سنګرونه به دوي ته په ميراث پاتي كيږي. دافغانستان وارثين به دوي وي. هغه چې په خپل سنګركي صبر كوي – هغه چې داسلام له مورچلونه دفاع كوي – هغه چې ددي انقلاب مخلص پاسداران دي هغه چې دسازش نه ننګ لري ددښمن سره سازش كول پيغورګڼي – آخري فتحه ددوي ده دافغانستان وارثين دوي دي. داسنګرونه به دوي ته په ميراث پاتي كيږي. يواځي داقوت به په ميدان كي استوار اوثابت پاتي كيږي اومطمئن دي چې داټولي توطئې به خداي شنډوي الله "خيرالماكرين" دي په هرڅه قديراوتوانا دي. هغه دخپلي لاري مخلص مجاهدين يواځي نه پريږدي. داټولي توطئې به الله شنډوي لكه څنګه چې ددي تحريك دشروع ورځي نه ترنن پوري دلويولويو ځواكونو توطئې خداي شنډي كړي داسي به الله (جل شانه) دجهاد په خلاف دا پاتي سازشونه هم خنثي ګړي.

غرب ددي جهاد په خلاف پدي توطيو كي سپي وظيفې په غاړه اخيستي، دمجاهدينو په صفونو كي متعددي ډلي جوړول ځيني مستقيماً اوځيني ديعضي اسلامي ملكونو له خوا له ځينو نه سياسي ډلي جوړول اوځينوته مذهبي رنګ وركول، دمجاهدينوترمنځ متعددي ډلي جوړول داحزابو دتعدد فتنه راپيداكول اوته پريښودل چې داټول جهاد دي ديوتنظيم له خوا رهبري اواداره شي – مختلفي ډلي دي راپيداشي. اوبيا دهغوي ترمنځ درقابت اودتناقض فضا راايجادشي. هغوي دي يوبل تضعيف كړي، دا لومړي كارو چې غرب په غاړه اخيستي دي. پدي ترتيب دجهادي څواكونو اودهغوډلو چې اسلام ته متعهد دي اويه افغانستان كي اسلامي حكومت غواړي له اسلام نه پرته په بل څه نه راضي كيږي ددي ډلوتضعيف او داخلي مشكلاتو سره مخامخ كول.

دمختلفو ډلو دتناقض، رقابت او مشكلاتو سره اويه داخل دولو كي هغوي ته دانشقاق اوانشعاب فضابرابرول، دهغوي موثركسان اخيستل په هغوي كاركول اوبيا دولو په خلاف هغه استعمالول په داخل كي دځيلي خوښي قوماندانان تقويه كول. مستقيما دهغوي اكمال بيا په يوي شوراكي دهغوي تشكيل اومنسجم كول بيا ددوي نه دجهادي څواكونو اوتنظيمونو په خلاف استفا ده كول اومزيد تفرق اوتحزب په مجاهدينو كي راپيداكول. په جبهاتو باندي دتنظيمونو كنترول اواداره ختمول اوقوماندانان بغاوت اوله تنظيمونو نه وتلوته هڅول.

همداراز په داخل كي قومي مشران هڅول هغوي په پسراخستل، دتنظيمونو په خلاف تشويق كول.

دهغوي منظم اومنسجمول اوبيا په داخل كي هغوي ته مركزونه جوړول اويه دي ترتيب هغوي دتنظيمونو په خلاف استعمالول. داددغو غربي څواكونو اودهغوي داستخباراتي شبكو بل پروګرام دي، تاسو به آيله ورځ دصداي امريكا نه دغني احمد زي چې دافغانستان په امورو كي دامريكا دحكومت مشاور دي دامركه اوريدلي وي چې ويل بې مونږ تيركال په داخلي قوماندانانو اويه قومي مشرانو باندي ښه ډير كافي مصارف كړيدي، دا آيله ورځ دامريكا دحكومت مشاور دافغانستان په امورو كې چې اعتراف بې كړي چې مونږ تيركال په داخلي قوماندانانو اويه قومي مشرانو باندي بې حسابه مصارف كړيدي، دامصارف دڅه لپاره؟

دااوس تاسي غربي آژانسونه اودهغوي اخبارات – مجلي اوراديوګاني تعقيب كړي چې دقومي مشرانو دجرګواوجلسو په باب څه تبصري كوي. دقوماندانانو ددي شوراګانو په باب څه تبصري كوي هغه وايي چې دقوماندانانو داشوراګانو ديرشو كسانو نه پيل شوي وه څواوس اميدواري ديته زياته شوي.

اوشميريې دري سوو ته رسيدلي. دي له څه لحاظه ديته اميد ساتي؟ ولي دهغه تقويه كوي؟ ولي دهغه په نفعه تبليغات كوي؟ هدف څرګنددي. هغوي زمونږملت تجزيه كول غواړي. زمونږ دملي وحدت خاتمه غواړي.

ددغوجهادي څواكونو تكول غواړي هغوي نه پريږدي چې دغه جهادي څواكونه دي دټول ملت لپاره محور وګرځي. ټول ملت دي په دي راغونډشي اوداً دي په يوقوي اسلامي حكومت باندي منتج شي. هغه په دي منطقه كي يو قوي اسلامي حكومت داسي ګڼي چې توازن به داسلام په ګټه بدليږي اودلته له اسلام نه يوقوت جوړيږي. هغه داقوت نشي څغملاي. هغه دمجاهدينو اسلامي حكومت ځان ته په دي منطقه كي لوي خطرګڼي.

كه په افغانستان كي اسلامي حكومت جوړشي، بيا ددي احتمال دټل لپاره ختميږي بيا به دمسلمانانو ته يولوي څواك اوقوت په دي منطقه كي جوړيږي. بيادكشمير آزادي حتمي ده بيا به مسلمانان په هند كي په اسارت اوغلامي كي ژوند نه كوي، بيا دمحكومو اسلامي رياستونو دآزادي لاره پرانيسته كيږي.

كوم چې غرب بې نه غواړي، هغه خودبالتيك د رياستونو آزادي غواړي – دهغوي دحقوقومدافع خودي. اما ازبكستان – تاجستان اوآذربايجان ته كه ماسكو پوځ ليږي اويه زرګونو مسلمانان دلته په قتل رسيږي – پدي اعتراض نه كوي – دا دماسكو حق ګڼي. داهغه جايز حق ګڼي چې روس ددي حق لري چې دغورياستونو ته پوځ وليږي. اودلته دغه پغاوتونه وټكوي. دلته دآزادي جنګ داخلي فتني ګڼي – دقومي جنګونو رنګ ديته وركوي ولي د بالتيك په جنګونوكي چې مسيحيان دي هغه دآزادي جنګ ګڼي – دروس په ټولورياستونوكي چې كوم تحريك روان دي دا دآزادي تحريك دي. كه دا په بالتيك رياستونوكي وي اوكه دا په محكومو اسلامي رياستونوكي وي. غرب نه غواړي چې اسلام دي د يوقوت په حيث سرراوچت كړي اوقوي اسلامي حكومتونه دي جوړشي. ددي غونښتل چې قوماندانان له تنظيمونونه بېل كړي وابې خلي قومي مشران دتنظيمونو په خلاف استعمال كړي. ترڅودي ټولو نه داسي يوقوت جوړكړي چې دهغه ائتلافي حكومتونو لپاره پشتوانه شي چې د هغي اسرار اوس راپرېنډ كيږي كه ددي په افغانستان كي قوي ډلي درلودلي داكاربې نه كاوه ولي هغوي داسي ډلي نلري چې هغه دي ديوي ډلي لپاره پشتوانه شي. پدي خاطردي چې هغوي داهلي ځلي كوي – قومي مشران بې منسجم كول قوماندانان بې له ډلواوتنظيمونو نه بېلول اوله هغوي نه بېل قوت جوړول اوبيا دجهادي ځواكونو پرخلاف استعمالول.

ورونوا تاسو به اوريدلي وي چې پدي شپږ ورځوكي دملل متحد سرمنشي كوښار دافغانستان دمسئلي دحل لپاره يوطرحه وړاندي كړي – چې دهغه مهم ټكي دادي. بايد يومؤقت حكومت جوړشي. ورپسي ټامين شي – دافغانانو ترمنځ خيلي منځي ډيالوګ اوخبري اتري پيل شي – بيا انتخابات وشي. زمونږ موقف دادي چې په صريحو الفاظوځل بياهغه اعلانوو ترڅو ديټولو شكوك اوشبهات رفع وي اودهغوكسانو دتبليغاتو مخه هم ونيولي شي. چې په خپله خريطه كي له دروغونه پرته بل څه نلري اودهغوي ټول كمال دادي چې دحزب په خلاف بايد تبليغات وكړي.

بل څه نلري

له نجيب سره خبري اتري نشي كيداي. نجيب اوډلي ته بې له دي نه پرته بل امتياز نشي وركول كيداي چې هغه وسله پرځمكې باندي كيږدي مجاهدينو ته بلاقيدوشرط تسليم شي دجنګ نه لاس واخلي – داسلام غيږي ته پناه يوسي اود خپلو تيرو كړو په نسبت ندامت وښيي عمومي عفوه به دهغوي په هكله اعمال كيږي له دي نه زيات هيڅ نوع امتياز نجيب اودهغه دډلي هيڅ فرد ته نشي وركول كيداي. له نجيب سره ائتلافي حكومت دبوي شيبي لپاره هم افغان ولس اومجاهدين نه مني. موږ ددي ډلي يوفردهم دبوي ورځي لپاره هم په يو ائتلافي حكومت كي نه منو. داخو پريږده چې دنجيب تر رياست لاندي دي يوائتلافي حكومت جوړشي بيا دي موږ هغه قبول كړو په هغه دي اعتراض ونلرو. بيادي دهغه په خلاف جنګ متوقف كړو. دنجيب په موجوديت كي اوريند نشي كيداي. دبوي شيبي لپاره هم موږ دي ته تيار ته يو چې دنجيب په موجوديت كي اوريندومنو.

جنګ به ترهغه ادامه كوي چې دنجيب حكومت نسكور شي اودمجاهدينو په لاس اسلامي حكومت قائم شي.

"دلمونځ كوونكوپرله پسي تكبيرونه"

دنجيب په موجوديت كي يادهغه سره دائتلافي حكومت په صورت كي انتخابات هيڅ ارزش نلري موږدغسي انتخاباتو ته تيارنه يو دانتخاباتو لپاره يوه مطمئنه اداره په كارده چې په ملك كي امن اواوريند تامين شي، آزاد اوعادلانه انتخابات تضمين شي، ترڅو چې دغسي دملت په خوښه يوه مطمئنه اداره نه وي جوړه شوي، انتخابات هيڅ ارزش نلري، موږ انتخابات دكمونيستي ډلي سره نه منو، موږدنجيب ډلي ته په انتخاباتوكي برخې وركولو لپاره تيارنه يو كومه ډله چې يونيم مليون افغانان بې وژلي اوددوي لاسونه دافغانانو په وينو سره دي، موږهغوي ته په انتخاباتوكي دبرخې وركولو لپاره تيارنه يو. ويه ګورو چې هغه په انتخاباتو كي څنګه شركت كولاي شي!!

نوردي ومني، تاسي اعتراض مه كوي، زه به وګورم چې دوي څنګه دا انتخابات ترسره كوي! او ائتلافي حكومت څنګه جوړوي؟

په جنګ كي ستارول څه و؟ چې دنجيب په ملګرتيا كي نه څه رول ولوبوي!! په جهادكي ستاكومه برخه وه چې كه دنجيب په څنګ كي ودريږي، نوهغه به تقويه كړي و توانيداي شي چې يو ائتلافي حكومت جوړكړي.

روان حالات اوزمونږدريځ

زمونږ موقف دادي چې بايد رژيم دجنګ له لاري نه نسكورشي، ترڅو چې هغه په جنګ اصراركوي او دجهاد په خلاف توطئو كي ملوث وي، دجنګ له لاري نه پرته دهغه دنسكورولو بله لاره نشته.

موږبه كابل دخوست په شان ان شاء الله فتح كوو. نه موغوښتل چې كابل ته دي مجاهدين داخل شي. اودخوست پيښي دي په كابل كي تكرار شي. ولي كه دي ته اړشو نوكابل به دخوست اوتخارپه شان انشا، الله فتح كيږي.

"دبرخوالو تكبيرونه"

زمونږ موقف دادي چې راځئ ټول هغه څواكونه چې اسلام ته مخلص دي اوله سازشونونه ننګ لري اويه رښتيا په افغانستان كي اسلامي حكومت غواړي هغوي دي يوبل ته لاس وركړي اودرژيم په خلاف دي دمشتركوعملياتو لپاره ځان تياركړي، كابل ته داساسي ګوزارلپاره دي چمتوشي. زه باورلرم چې ان شاء الله ديواساسي اوسترګوزار سره دكابل رژيم نسكور بزي اوختميږي.

موږاردوته يوځل بيا موقع وركوو اووادي اردوځان ته آخري چانس وګڼي، موږ نه غواړو چې داردوله افسرانو سره

(ص ٥)

پاسخ هاي امير حزب اسلامي به سوالات اراكين حزب

يکشنبه د ۱۳۷۰ کال دثور ۲۲ نيټه الرشيديه دارالايتام ، نصرت مينه ، پيښور ، شهادت :

دشهادت ورځپاڼي ددرنولوستونکو پام دادي د هغو پوښتنو او ځوابونو پشپړمتن ته رااړوو چي دحزب دارکانو په کلني دري ورځني سيمينارکي دحزب اسلامي افغانستان له اميرمجاهد ورور انجنيرحکمتيارڅخه دسيمينار دپرخوالوله خوا په ډېره آزاده فضاکي مطرح شوي اوددوروحکمتيار له خوا مقنع او تفصيلي ځوابونه ورکړشويدي . پټه دي پاته نه وي چي دهغوي پوښتني چي بوه ورځ له پورته سيمينارنه دمځه دجهاد پوهنتون په کنفرانس کي مطرح شوي اوځوابونه ورته ويل شوي وواودشهادت ورځپاڼي په تيرو ګڼو کي خپاره کړي دلته ئي دبيا نشرولو اړتياونه ليدل شوه .

مجاهد ورور حکمتيار له حمدوثنا څخه وروسته خپلي خبري داسي پيل کړي :

ورونو ښه ډېرسوالونه درلودل چي دسيمينار مسئولي اداري ته بي سپارلي ، هغوي له دي سوالونو نه ښه زيات شمير انتخاب کړي اوامېددي چي کم له کمه ددي سوالونو زياتي برخي ته ځواب وواېو، که فرضا ځيني پوښتني پاتي شوي اوموږ ونشوتوانيداي چي په دي جلسه کي هغوته ځوابونه وواېو نوموږ دي ته تيارېوچي په خصوصي توګه دورونو سوالونوته ځواب وواېو .

پوښتنه : داسي زمزمي کيږي چي حزب له نجيب سره مستقيم ياغير مستقيم تماس نيولي آيا داخبره ترکومه حده صحيح اوياغير صحيح ده که پدي باره کي څه رڼاواچول شي ښه به وي .

ځواب : زموږ موقف داده چي که نجيب مجاهدينو ته تسليميږي بلاقيد وشرط نوموږ دعمومي عفوي سره سم هغوي ته پناورکوو . دامو موقف دی ، دادحزب موقف ده دلومړي ځل لپاره حزب اعلان کړي ، دحزب شورا اواجرائيي اعلان کړي ، بيا دالحاديه سطحه اعلان شوي، بيابه موقت حکومت کي اعلان شوي ، معني بي داده چي داټولو مجاهدينو مشترک موقف دي . عام ښتنه شوي ، که نجيب وسله پرځمکه کيږدي اومجاهدينو ته تسليم شي موږ خبرواتروته ووسره تياريو . راځي دي ، تسليم دي شي ، موږبي منو .

خوله هغه سره مشترک حکومت جوړول ، هغه ته په حکومت کي برخه ورکول ، دافغانستان دمستقبل په باره کي له هغه سره خبري کول، دهغه حزب په رسميت پيژندل ، په انتخاباتو کي هغه ته برخه ورکول ، ياتوري خبري ، په هغوکي له نجيب سره خبري کول ،داموغندلي ،دامحکوموو ، په هيڅ صورت کي ورسره تيارنه يو. نجيب په بارباړ تماس نيولي، خوزموږ ځواب همدغه وچي دادوه خبري کيداي شي ، تاسو به بلاقيد وشرط تسليميږي او دتسليميدو په څرنګوالي بحث کيداي شي او زموږ له خوا دعمومي عفوي دتطبيق اودتنفيذ په څرنګوالي، له دي نه ماسوايه بلې خبري بحث نشي کيداي . يوځلي حتي داسي احوال يي هم رالېږلي چي په همدي خبره کوم . کله چي زه مخصوصا دطائف په کنفرانس کي وم ، مګرزاېي تماس نيولوچي دي ته تياردي چي تسليم شي. وروسته معلومه شوه چي دهغه اراده دتسليميدونه وه . يامکن نورو ، امريکا مطمئن کړي وي چي مه تسليميږه ، ټينګ پاتي شه ، موږزدي دفاع اوحمايه کوو، تشويش مه لره ،ويره مه لره دي ته بي هغه تشويق کړي ، يوه مرحله داسي راورسيده چي هغه مسلسل تماس نيولو چي زه تياريم چي تسليم شم خوبيا وروسته معلومه شوه چي هغه له خپلي خبري نه بيرته په شاشوي، زموږ موقف دادي، په دي تقريبا تيريو کال کي زيات مخصوصا کله چي عسکري قيام دهغه په خلاف تنظيم شو. له هغه نه بعد حتي ددي پيغامونو دتلوراتلو سلسله هم بنده ده . نورهغه مايوس اوناامېده دي ، اوهغه پوهيدلي چي دحزب موقف څه ده، نوهغه دي ته طمعه نلري چي شايد حزب سره هم دهغه خبره وشي او هغه ځرګندوايي چي موږخبري اتري کوي لپ خومبانه روانو سره ، بنيادګرايان استثنا کوي ، مسلسل خپله وايي، افراطي دګر سازش ناپذيره عناصر، جنګجو عناصر، دو جنګ طلبه ولي ، اوبنياد ګرايان افراطي تګ عناصر دامستثني کوي اوبوهيږي چي له امير دي نه دهغه مقصد څوک دي ؟ څوک ښيي دو ؟ اوکله کله خپواځي حزب ښيي نوراټول اوا داسي ګڼي چي ګويا له هغوسره مذاکرات هم شويدي اوبواځي حزب مستثني کوي . دا نجيب په هکله زموږ موقف همدغه دي . ول

پوښتنه : يل سوال دادي چي تاسو پخپله دم هغه نوي طرحي کي چي پخپلي پروني يا

ويتا کي مومطرح کړه ، وموويل چي په هره ولسوالي کي چي کوم مسجدونه چي زرګوره وي اوهلته دجمعي لمونځ کيږي ديوي حلقي حيثيت لري.

پوښتنه داده چي اول خويه افغانستان کي په محلي سيموکي دحنفي مذهب په اساس دجمعي لمونځ نه کيږي اوداسي جومات نشته چي هم زرګوره ولري ، يادجمعي لمونځ ته خوله سره جوازنه ورکوي بل داچي په هرکلي کي ترددي څلوروجوماتونو پوري وجودلري اوپه يوي ولسوالي کي شايد دجوماتونو شمير ترسلګونو هم زيات شي نوبيا به هلته په څه توګه جومات ټاکل کيږي چي په ټولو کي هغه جومات دحلقي په توګه وپيژندل شي . په درنښت .

ځواب : زما مقصد صرف داو چي مورمحلي حلقي جوړي کړو او دهغه کلبونه چي په زرګورورونو مشتمل وي هغه ته ديوه کلي اويادېري حلقي حيثيت ورکوو اوکيداي شي چي په يوکلي کي دوه حلقي جوړي شي . کيداي شي چي ددوه دري کليونو نه يوه حلقه جوړه شي يويل خوانه

> مااينرا خيانت مي شماريم که تنظيمي صالحتر ازحزب اسلامي درصحنه باشد وما بنابر مصالح دنيوي وتعصبات ګروهي بر حزب اصرارکنيم ودرپهلوي حزب صالحتر قرارنګيريم .

پراته ترددي کلي زرګوره جوړوي هلته دي يوه حلقه جوړه شي . په دغو دوه دري کليو کي چي ترټولو نه سترجومات دي هغه ددوي مرکزشو، ضرورنده چي هلته

دي حتماً دجمعي لمونځ ادا کيږي . که دجمعي لمونځ نه کيږي هم چي ترټولو نه سترجومات دي هغه به ددوي مرکزوي او دوه دري څلورکلي به سره راغونډ يږي اويوه حلقه به جوړوي هدف دادي چي دغسي محلي حلقي جوړي شي ، چي هغه پخپلو منځونو کي سره راغونډيږي . دغه دراتلونکي نظام اساس اوبنياد پدي . دانتظيمي حلقي چي د هرکلي په مستواجوړيږي . چي زرګورونه لري داېوه حلقه شوه ، دوي ناسته پاڅه لري ، بحث کوي، تصميم نيسي ، دخپل کلي دخپلي منطقي داموروو دسمبالولو لپاره يوهيئات ټاکي ماداطرحه داسي وړاندي کړي وه چي په هغي کي څه اشکال نشته .

پوښتنه : تاسو وويل چي رئيس دولت ته بايد داصلاحيت حاصل وي چي په ولايت کي والي عزل او په کابينه کي تغيير راولي ، داچي والي دولايت دمنتخبي شورا له خوا ټاکل شوي او وزير هم دمرکزي منتخبي شورا له خواانتخاب شي، اميرته ددوي دعزل صلاحيت حاصل شي ، آيادا دملت له رايي سره مخالفت ندي ؟

ځواب : نه ! دا دملت له رايي سره مخالفت ندي ددنيا په ټولو نظامونو کي حتي رئيس دولت ته دشورا انحلال صلاحيت هم ورکړشوي ، نورخوپريږده څکه چي دامصلحت ايجابوي ، حالات داسي راپيدا شي چي حتي هلته شورامنحل اعلان شي . اضطراري دجنګ حالات دي اودي ته مجبوره کيږي چي حتي شورا منحل کړ ي . دنيا کي داسي نظامونه شته چي دديموکراسي هم مدعيان دي ، دانتخاباتو هم مدعيان دي ، خو منتخبه کابينه نلري په امريکا کي اوس منتخبه کابينه نشته . کابينه منتخبه نده ، يعني له کانګرس نه نه انتخابيږي ، بلکي خپله رئيس جمهورته دااختيار حاصل دي، دعزل دتغيراو تبديل اختيارهم هغه ته حاصل دي . ددي لپاره ، مادليل ووايه ، ددي لپاره چي په اطراف کي مستقل مستقل ولايتونه دبيل ملک حيثيت غوره نکړي او په تجزيه منتج نشي ، کم ترکمه له مرکزنه بايد رئيس دولت ددي حق ولري چي والي وټاکي اويابي عزل کړي . دټاکلو په قسمت کي ماويل چي هغه به پيشنهاد کوي اوددولايت شورابه رايه ورکوي . چي کله حالات داسي ايجابوي چي داناهل ده ، دتجزيي لپاره کارکړي . محلي تعصبات راپاروي ، منطقوي اوقومي تعصبات راپاروي ، دکار وړندي ، په مرکزکي بايد رئيس دولت ته ددي حق حاصل وي چي هغه تغير اوتبديل کړي ، اواسلام داحق اميرته ورکړي .

دوالي دټاکلو ، دعزل اونصب حق اواختيار اسلام اميرته ورکړي . زه هم همدغه وايم يعني داسي چي اميرته دهغه دعزل حق ولري ، نه دتغير اوتبديل حق ولري دانو بيا څنګه امير شو. داخو دمرکز، دکابل اميرشو، بيا به په ولايتونو باندي هغه هيڅ تسلط نلري . ددي لپاره

چي داوحدت ټينګ پاتي شي ، ګوري په پاکستان کي همداسي دي ، په هغو کي بيابوشي بيل دي چي ګورنر له مرکز نه ټاکل کيږي او وزيراعلي بيل دي چي منتخب راځي . خورئيس دولت ته ددي حق هم ورکړشوي چي صوبائي کابينه منحل کړي . سره له دي چي دااداري اختيارټول ګورنر سره دي او دانظام زياتي خلاوي هم لري ، مشکلات هم لري .

هميشه دګورنر اووزير اعلي دصلاحيتونو ترمنځ ټکر راغلي اوددوي ترمنځ نزاع وي ، لکه څنګه چي وزيراعظم اودرئيس جمهورترمنځ هميشه په صلاحيتونو باندي نزاع اوکشمکش وي ، تاسو وليدل چي مخکي ددي تظبرونو په دوورکي دهغي اودرئيس دولت ترمنځ څومره مشکلات وو . هره ورځ داخبارونو په سطحه راوتل ، ددي لپاره چي داپدي منتج نشي نوموږ وايوچي په ولايت کي بووالي په کاردي ، دهغه په څنګ کي بله باصلاحيته مرجع نده په کار، تجزيه دصلاحيتونو اواختياراتو نده په کار ، بووالي دي وي دشورا په مشوره دي ټاکل

کيږي ، خواميرته دي داحق وي چي هغه پيشنهاد کړي اوچي کله بي هم وليده چي داددي کاراهل ندي وکولاي شي چي هغه عزل کړي. ددي لپاره به لايحه وي چي په کومو صورتونوکي هغه عزل کولاي شي

خيانت بي وکړ اختلاس بي وکړ- داداري کفايت بي نه درلود باعث دتجزيي شو تفرقه بي راپيداکوله اوامثال ددي ... دايه په لايحه کي مشخص وي د رئيس دولت صلاحيتونه به ټاکل شوي وي چي پدي صورتونو کي هغه والي عزل کولاي شي همداراز د کابيني په ارتباط - هغه کسان چي دي بي پيشنهادوي اودي دا مورومسئول ده زه وايم داسي دي هم نه

> تاسي حق لري چي دحزب دامير اونورو مسؤلينو داجراآتو اوکړوورو په رابطه اعتراض وکړي پدي شرط چي له اصولي مراجعونه وي ،نه دپټو اوخصوصي جلساتو په ترځ کي .

وي چي رئيس دولت دي کابينه په خپله تخوښه ټاکي اوشورادي راي نه ورکوي نه ! شورا دي را به ورکړي دي دي پيشنهادکړي خوهغه ته دي ددي حق حاصل وي چي په کابينه کي تغير اوتبديلراوستلاي شي . موږ له همدي مشکل سره مخامخ وو .مخکي مو تجربه داوه چي که اجرائيه به جوړه شوه اميرددي حق نه درلود چي په هغي کي تغير اوتبديل راولي - شورا کيناستله پردي بي بحث کړي دوباره بي داساسنامي داماده تصحيح کړه او اميرته بي ددي حق ورکړ.

پدي شکل چي دتغيراوتبديل حق لري داجرايي په مشوره - که څه هم په دي کي مشکلات شته يعني چي خپلي اجرائيي ته داجرائي دتغيراوتبديل حق ورکوي داډېره ګرانه ده. په همدي خاطر داحق اميرته وسپارلي شو.

اوحتي دعزل حق ورسپارل شو - هيأت نظار وټاکلي شو - هيأت نظارکولاي شي چي دامير په مشوري داجرائي يوغړي عزل کړي - بل څوک راولي - زموږ خپله تجربه دا ښيي - زه د دي تجربو په رڼاکي وايم چي رئيس دولت ته بايد ددي حق حاصل وي چي هغه کابينه چي شورائه بي هغه پيشنهاد کړي اوله هغي نه بي داعتماد رايه اخيستي ، که کله وګوري چي پدي کي کفايت اواهليتنشته - وکولاي شي چي په دي کي تغيراوتبديل راولي خودا به هم په لوابحو کي روښانه کيږي.

پوښتنه : بل سوال داسي دي چي ، خرنګه چي موږدکابل راډيو څخه مکررا اورو چي ګويا موږ دلشکرايثار غونډ کاملا فتح کيږدي آيا داخبره رښتيا ده کهغلطه که رښتيا وي - علت بي څه و ؟ چي دروسانو په موجوديت کي هغه په ټول توان ونشو کولاي ټول غونډايثار ونيولي شي ؟

ځواب : داخبره غلطه اوبي بنياده ده - دلشکرايثاريوکس هم هغوي ندي نيولي - لشکرايثارروغ رمټ او دا اوس په جنګ کي لګيا اومصروف دي. رژيم فقط توانيدلي چي صرف څومحدودي پوستي په تنګي واغنجان کي دکلنګار

په بوي برخي کي ونيسي . رژيم اته مياشتي مسلسل کوشش کړي چي دا مرکزونه ونيولي شي ونشو توانيدلاي . له اته مياشتو قرارونشيب نه بعد په دغو شپوورځوکي چي روژه وه اويبا اختر

راغلي زيات شمير مجاهدين هلته کم شوي وو دټولومجاهدينو شمير هلته دوه سوه و - داختر شپي ورځي وي.

مجاهدين بيرته خپلو مراکزوته نه وو رسيدلي . دښمن وتوانيدلي شو چي راشي. وسيع حمله وکړي دومره چي خپله نجيب اعتراف کوي چي دا زموږ د کامل وحدت په نتيجه کي فتح شو. يعني ددولت ټولو مسلحوقطعاتو پدي کي ګډ اوهماهنګ عمليات کړي وو پدي خاطر هغوي موفق شول . محدودي پوستي نيولي شويدي. اودښمن هسي غوايي چي دخوست داشکست جبران کړي او دخپلو افرادو دا پرېوتي مورال را اوچت کړي اوهغوي مطمئن او ډاډه کړي چي دادي رژيم لاختم ندي - په هغه کي ځمان نه ددفاع طاقت شته . دا دحزب اسلامي لوي مرکز و هلته دحزب اسلامي دفتري وي نجيب دا هم وايي چي موږ د حزب اسلامي دفتري ونيولي اولشکرايثار مو وځپلو، لشکر ايثار خداي خبر چي څو ځلي هغوي ځپلي . دا ځويم ځل دي چي زه له راډيو نه اورم چي موږ لشکرايثار تارومار کړ. لشکرايثارموځپلو .څو تر اوسه پوري هغوي لشکرايثار ندي ځپلي لشکر ايثار روغ رمټ دي او همدا اوس هم په عملياتو باندي مصروف دي . ددي څو پوستو دنيولو وجه هم هغه وه او دسرګال دزياتوبارانونو په وجه ، دداورو په وجه لاري بندي وي. اکمالات ګران شوي وو . مخصوصا په همدي شپوورځو کي تيرکي اوبه زياتي شوي وي -تګ راتګ ګران وو دجهبي اکمالات ګران وو . مخکښو جبهاتو ته مجاهدينو اکمالات نشواي کولاي.

پوښتنه : درادبوګانو له لاري اورو چي د مجاهدينو ترمنځ دغنيمت پر سريه خوست کي اودغرېه ويشلوسخت برخورد منځ ته راغلي اودغه په نتيجه کي زيات شمير مجاهدين له منځه ولاړل ، پدي باب پوره معلومات راکړي.

ځواب: خوست فتح شوي - تراوسه دمجاهدينو په لاس کي ده اودخوست دفتحي نه بعد متصل زه داخل شوي يم .له ماسره قاضي صاحب حسين احمد هم و چي الله دي هغه ته اجر ورکړي . دخوست اوضاع مو ليدلي - مجاهدين کاملا پر اوضاع مسلط دي اوپه خوست دفتحي نه بعد هيڅ پيښه نده راغلي .نه دوسائلو پرويش نه دغنيمتونو پرويش نه دمنطقي پرويش اوکوم مرکزونه چي کوم تنظيم نيولي دهغوي په لاس کي دي اکثر دولتي تاسيسات او مراکز د حزب په لاس کي دي چي زه دهغو نوموته تاسوته اخيستي شم دفرقي قوماندانۍ - رادارکندک دمخابري کندک ، دافع هوا ، ټانک - توپچي - حکمراني ، دخاددرياست دفتر - دخارنډوي دقوماندانۍ دفتر سپنه راډيواوتقريباتول له محدودوتاسيساتو نه پرته دخوست ټول اساسي اومهم دولتي

> وقتيکه بعضي افرادحزب را ديگران بنابررقابت هاي ناجايز،تطميع کرده وبيشتر ازحزب چيزي دراختيارشان ميگذارند، آنها حزب را ترک گفته به تنظيم ديگري ميروند.

تاسيسات دحزب په لاس کي دي .نه څه هنګامه پيداشوي نه برخورد شوي اونه ډېرکسان په قتل رسيدلي لکه دلته چي وايي .لکه تبليغات چي کيږي - آرامه آرامي ده - مجاهدينومشترکه اداره جوړه کړي اودخوست امنيت تامين شوي هيڅ برخورد ندي شوي او دا اوس مجاهدين په ګډه لګيا دي دبل ځاي لپاره پروګرامونه جوړوي ،مشترکا په خپلو شوراګانو کي بحث کوي اودبل ځاي لپاره دعملياتو پلانونه جوړوي . زه ورونوته اطمينان ورکوم چي دا هسي دروغجن تبليغات دي اودا هيڅ اساس اوبنياد نلري.

سوال : سوال ديګر اينست که درولايت لوګر باتعداد [illegible] از نفر مجاهد[illegible]

[illegible]

العاده داده ميشود . وهمچنان به يکتعداد زياد مجاهدين به نام عمليات بالاي کابل ولوګر پول ،اعاشه وکمک داده ميشود لاکن بدون چند نفرازبرادران عرب وانصار پاکستاني چند نفر بسيارکم افغانان که به نام آن ماشرم داريم که ياد آورشويم بدون مقاومت خيلي کم قرارګاه خيلي مستحکم لشکرايثار را ازدست دادند . علت آن چه بود - روشني انداخته شود بدنخواهد بود.

> شوري اجرائيه تنها بست هاي رده پائين را ازتشکيلات حزب حذف نکرده ،بلکه درمورد تجديد شوراي اجرائيه هم تصميم ګرفته اندکه هنوز شکل رسمي بخودنګرفته است .

جواب : من جواب اينرا عرض کردم ،ونه لشکرايثار مربوط به لوګر است - نه فرقه فتح مربوط به لوګر است - لشکر ايثار هم يک غند مرکزي حزب است وفرقه فتح هم مربوط به کميته نظاميست - جاي که لازم ديده شد به آنجا فرستاده ميشود .لشکر ايثار قبل ازينکه به لوګر فرستاده شود درننګرهارمصروف بود، ماه ها درعمليات جلال آباد رول خيلي برازنده ومهم رابازي کرد. پس ازآن ما برايشان وظيفه داديم که درننګرهار فعلا ضرورت نيست بايد به اطراف کابل فرستاده شوند . قطعاتش به

جنوب شرق کابل فرستاده شد، تعداد ديګرش به لوګر فرستاده شد . ديګرانش درمرکز قرار دارد ازين قطعات مرکزي حزب به هيچ ولايتي هم مربوط نيست ،مربوط به کميته نظاميست قطعات مرکزي حزب است جايي که ضرورت ايجاب کردبه آنجا فرستاده ميشوند .ممکن است ما لشکر ايثار رافرداازلوګرخارج کنيم وبه منطقه ديګري بفرستيم آنها قطعات مرکزي مربوط به کميته نظاميست مربوط به ولايت نيست - اګر کسي تشويش داشته باشد که چرا همه بي اين کمک ها به نام يک ولايت ميشود اشتباه کرده اين کمک ها به ولايت مشخص نيست ودليل اينکه دشمن توانست چند پوسته مجاهدين را درآنجا اشغال کند . من قبلا عرض کردم که عوامل اش بود.

سوال ديګر اينست که شمادرتمام اوقات مي فرمائيد که راي ملت رامېخواهيم ولي متاسفانه که در بعضي ولايات از امیرجهاد ګرچه تمام مجاهدين ناراضي اند به فکرخودتعين نموده ايد.

جواب : اساسنامه حزب اين صلاحيت را به امير داده که امير جهاد ولايت را به مشوره ارکان خو دتعين مي کند. به مشوره ارکان به معني اينست که راي ګيري صورت ميګيرد بلکه استمداد ميکند ولي صلاحيت امير ولايت را به اميرحزب ګذاشته ومن با استفاده ازين صلاحيت‌خود امير ولايت را تعين مي کنم به دليل اينکه تنظيم مرکزي بالاي تنظيم هاي ولايتي کنترول واداره داشته باشد - به احزاب مستقل تبديل نشود، باعث تجزيه افغانستان نشود. مانعين اميرولايت را ازصلاحيت هاي امير حزب ساختيم .

اساسنامه براين ګواه است واين صلاحيت رابه اميرحزب تفويض کرده متاسفانه که من ازين صلاحيت خود چندان استفاده هم نکرده ام .تاحال تعداد محدود امراي ولايات تعين شده ودر دوسه جايي - که شما درين دوسه جاي

نارامني هستيد به خاطر همين مشکل ماشواانسشيم تا حال امراي ولايات همه بي ولايات راتعين کنيم وماسعي مي کنيم که ازداخل شورا تعين کنيم . سعي مي کنيم که موافقه اکثريت هم به اين امير حاصل باشد ومخالفت چنداني وجودنداشته باشد.

ولي توافق همه محال است . چطورکنيم ؟ اصول حزب اينست که حتي باامير حزب هم اګرکسي مخالفت داشته باشد، ميتواند درداخل حزب زندګي کند ، چه رسد به امير يک ولايت ، ولي بايد حدود وضوابط معيني رامراعات کند.حتي اګر به اميرحزب اعتراض داردوآنرا شايسته امارت نمي شمارد ، ميتواند به عنوان رکن و عضو درحزب زندګي کند . ودرعين حال اعتراضات خود راهم ميتواند مطرح کند امابايد شرائط وضوابط رامراعات

کند و حق اينرا ندارد‌که درين رابطه چيزي رانشرکند ، ويابا‌کسي ويا‌جمعي سري ملاقات کندو شکايات و انتقادات خودرا بصورت خصوصي عنوان کند . همچنان برايش جايزنيست که مهماني هاي خصوصي راداثر کند،صرف ميتواند که اعتراض وانتقاد خودرا درجلسه ارکان حزب (مثليکه امروز دائر است) درشوراي مرکزي حزب و درکميته اجرائيه حزب مطرح کند، ان شاء الله هر اعتراض

وي جواب ګفته ميشود وهرفيصله که به اکثريت صادرشود او مکلف است ازين فيصله دفاع کند وبه آن مطيع باشد ولوکه مخالف رايش هم باشد . اګرکسي به اکثريت ويابه اساس ضوابط ومقررات حزب به وظيفه اي تعين شد اومکلف به اطاعت از آنست ، کسي حق ندارد ، عليه اوجبهه ګيري نمايدويا تبليغات سوء و انتقادواعتراض کند، هنګامه برپاکند، نشريه خصوصي پخش کند ويا انتقاد خودرا درجلسات خصوصي مطرح کند، اساسنامه حزب درين قسمت صراحت دارد که من يک ماده اين اساسنامه رابراي شما قرائت ميکنم تاتشويش برادران رفع ګردد ، شماحق داريد که به اميرجهاد واميرولايت اعتراض وانتقادداشته باشيد ، نسبت به اجراآتش موافق نباشيد اميرولايت راکه بګذارحتي نسبت به اميرحزب هم همين اعتراضات راميتوانيد داشته باشيد مشروط براينکه اين نکات رامراعات کنيد

۴ يوسلوانه ويشتمه ماده وايي چي : دخپلي اصولي اوقانوني مرجع نه پرته به نورو غونډوکي دانتقاد طرح کول اصولا ناجائز کارګڼل کيږي . دحزب هغو غړوته چي اساسا حزب ته وفاداروي اوهدف ته دوسيدو لپاره دحزب اسلوب اوتګ لاري ته تابند وي په حزب کي ولاندني حدودو مراعات ضروري دي

۱ - هغوي دغړيه رسمي غونډوکي دنظرڅرګند ولو حق لري ، چي پدي باب به دنشراوخپراوي حق نلري اودحق به هم نلري چي په پټه اوسري ډول د حزب له غړو اومسوبينو سره وګوري اودخپلي رايي په ګټه پټي غونډي جوړي کړي اوپه حزب کي چي درايي په اکثريت کومه فيصله وشي ، هغه به دحزب دقانوني اورسمي فيصلي په حيث تأييدوي اوپوره مراعات به بي کوي او دمقررشوي حدودونه بهربه دحزب درسمي پريکړي دترديد دهلوخلو کولو حق نلري

اوس ورونو ته وايم چي که دکوم اميريه نسبت اعتراض لري . دولايت دامير په حصه کي ، يادحزب داميريه حصه کي ، کوم اعتراض لري چي ولي داناأهله کس بي داميرولايت په حيث ټاکلي، تاسي داعتراض حق لري خوداسي نه چي په بهرکي به تبليغات کوي اودهغه په خلاف به جبهه جوړه وي اودهغه دعزلولواودهغه دناکامولو هلي ځلي به کيږي اصولي مراجعوته په رجوع کيږي ، اوداسي چي فردفرد بي په ټولو قانع وي ، متاسفانه داکارممکن ندي ، موږڅنګه وکړو داسي اميرته پيدا کيږي چي دولايت فرد فرد ارکان اومجاهدين پرهغه قانع وي ، دامير په نسبت بي نشي پيداکولاي څه لاچي داميرولايت په حصه کي دي پيداشي . خو ورونه به دا اصول مراعاتوي چي داصولي فيصلوبه اساس بوځول دولايت اميروټاکلي شو ، دهغه به اطاعت او مرسته کوي، دهغه په خلاف به جبهه نه جوړوي اوتبليغات نه کوي .

سوال : آيا به اثر همين کارجبهات بزرګ سقوط ننموده است ؟

جواب : من ګمان نمي کنم که به اثر اين کارجبهات سقوط کرده باشد. تاجايي که من معلومات دارم ديګران بنابررقابت هاي ناجائز، کسي ازحزب راتطميع کرده وبيشتر ازحزب براي او داده است . به اين خاطر حزب راګذاشته وبه تنظيم ديګري رفته است امااينکه کسي بنابر اعتراض وانتقاد اصولي حزب را ترک بګويد من برايش اطمينان ميدهم که اګر نسبت به حزب ګروه صالحتر و اصوليتررا يافتي بياماهمه باتويکجا مي رويم . به حيث مسلمان باتوتعهدمي کنيم که اګرنسبت به حزب ګروه صالحتر ومنظمتر را که درجهاد بيشتر موثر باشد، ازلحاظ افرادصالح ومتعهد نسبت به اسلام وازلحاظ نقش درجهاد ونفوذ ش درېين مردم نسبت به حزب بهترباشد. ترا بخدايت قسم است اګرما راهم به آن متوجه نسازي

وماهم ګناهګارومجرم باشيم که باتويکجا به آن حزب نرويم . مااينراخيانت مي شماريم که يک حزب صالحتر نسبت به حزب اسلامي موجودباشد وبه اساس تعصبات حزبي ومصالح پيش پاافتاده دنيوي مابرحزب اصرار کنيم ودرپهلوي همان حزب صالحترقرار نګيريم .(تکبير حضار)

من به اين خاطر درحزب متعهد هستم که من نسبت به اين حزب تنظيم صالحتر رانيافتم و لحظه يي که من ببينم نسبت به حزب يک ګروه موثر تروخوبترو صالحتر تشکيل شده والله اولين کسيکه به آن حزب تعهد مي کند من خواهم بود .

عرض من به آن برادرانيکه به خاطر اينکه حزب نتوانسته به آنها موتر بد هد ، حزب نتوانسته که به آنهاامکانات وسيع وفراخ بدهد ، حزب نتوانسته که به آنها امتيازات دلخواه بدهد، و حزب نتوانسته که اورا به حيث امير تعين کند و درعوض کسي ديګري را براواميرتعين کرده ، حزب ديګري با اشاره چشم باباودعوت هاي تطميع کننده خود اورابه سوي خود کشانده است ،آنها بعدازآنکه به آن حزب تعهد کرده اند وامکاناتي هم دريافت کرده اند وموقف خويش راهم درآن حزب تثبيت کرده اند وبه مجرديکه عليه حزب اسلامي در اينجا بغاوت ميکنند، ميباشرنا به همان موعد خود ميروند وجاي خودرادرآنجا اشغال مي کنند . اګربه اين خاطرعليه حزب تبليغات مي کنند، شمابايد آنهارا بشناسيد واجازه اين کاررابه آنهاندهيد . من باوردارم که درغيرابنصورت ازحزب هيچکس بيرون نرفته است .

تاجاي که من خبردارم ، ممکن است به اثرتصرفات ناجائز يک اداره اي، يايک اميري ويارئيسي کسي ناراض شده وحزب راترک ګفته باشد احتمال اين وجود دارد . ولي به آن برادريکه به اين اساس ناراضي شده پيشنهاد ما اينست که به خاطر خدا بايدصبرکند وآنکه بخدا تعهد کرده که مال ونفس خودراهمه درراه خداقرباني کند ، خبراست که اګر اورا محروم کرده اند ببين برادر ديګري درسنګرهابه شهادت ميرسد اولادش به زندان ميرود ، خانه اش ويران ميشود. اقاربش به شهادت ميرسد اوصبرميکندو وازهيچکس هم توقع پاداشي ندارد .

توجيهي وجودنداردکه حزب راترک کني مګراينکه توبخاطر اهداف دنيوي تعهدکرده اي وميداني که پيامبر عليه السلام ميفرمايد :" هرکه بايک اميري به خاطر مقاصد دنيوي بيعت کند در روز قيامت درجمله کساني حشرميشود که خداوند باايشان تکلم نميکند خداوند به نظر رحمت به طرف ايشان نمي نګرد ، خداوند آنهارا ازګناه تزکيه نميکند وبرايشان عذاب دردناک است "

سوال : شماچندين دفعه دربيانات خود درمسجد فرموده بوديد که امام اګربه زوربر مقتديان خودراامام ميسازد اين ګناه است ؟

جواب : من ګفته بودم که پيامبر عليه السلام ميفرمايد که امامېکه مردم به امامتش راضي نيستندو اواصرارميورزد لعنت خدا براوست وهدف من ازين حرف همين بودکه امام مسجد بايد کسي باشد که مردم ازامامت اوراضي باشند پس درمورد اميرعمومي اجتماع اين مسئله چقدرضروري خواهد بود؟ اميربايد به اساس بيعت معلن وبه اساس بيعت بدون اکراه واجبار تعين شود ، وبه اساس بيعت معلن يعني بنابررضايت بلااکراه وبلااجبار مردم تعين شود. من اينطور ګفته بودم وفعلا ما اينرا مراعات مي کنيم ، درمورد اميرحزب انتخابات ميشود، درمورد شورا انتخابات ميشود، درمورد اجرائيه انتخابات ميشود، درمورد اميرولايت انتخابات نميشودولي توسط اميرمنتخب انتخاب ميشودوبه اميرمنتخب هم توصيه شده که با ارکان ولايت مشوره کند، ما تاحال امراي راکه درولايات انتخاب کرده ايم ، به رياست تخطيط وتنظيم توصيه نموده ايم که ارکان وشوراي ولايت مربوط راجمع کنيد باآنها تفاهم صورت بګيرد ، بعددوسه ،نفر را آنها پيشنهاد ميکنند، ازين آن دوسه نفرما يکي را انتخاب مي کنيم وتاحال کار به همين ترتيب شده است من به برادران عرض مي کنم که اګرحتي کسي رامابرديګري ترجيح داديم شما بايد اطاعت کنيد که همين تقاضاي ايمان وحکم اسلام است وبيعت ماهم به همين اساس باحزب باشد که اګربرما کس ديګري راهم ترجيح يافت ماطوعاً وکرهاً ازآن بايداطاعت کنيم

سوال : شما درجريان سخنراني

(ص ۵)

څوک چې دجهاد په لاره کې ...

دې هغه څه وښي کوم چې په خوست کې وشول . نوردې دنجیب له ملګرتیانه لاس واخلي اودمجاهدینو په څنګ کې دې ودرېږي اودجنګ پای ته رسېدوکې دې خپل رول اداکړي . دابايد زموږ په دلسوزي حمل کړي ، نه په زوراّوداله دېته منبعث شوي چې موږنه غواړو په کابل کې دې وینې توی شي .

موږنه غواړو چې کابل دې دنوروښارونو په شان وران شي . موږ نه غواړوچې دولتي تاسیسات دې تباه شي . موږ نه غواړو چې مجاهدین دې مسلح کابل ته داخل شي .

غواړوچې دانبدیلي اوتغیر په آسانۍ سره ترسره شي ، دوینو دتوییدو او دورانۍ نه پرته'پدې خاطر موږیوځل بیا اردوته موقع ورکوو اوزه باورلرم چې دکابل ولس پدې پوهیدلي اوددیدې پوهیدلي چې دنجیب په موجودیت کې جنګ پای ته نشي رسیدلای اونجیب دحکومت دبقاهر چانس ختم شوي .

له دې نه پرته چې دمجاهدینو په خوښه یوموْقت حکومت جوړشي ، بیادې عام انتخابات ترسره شي ، بیا دې قدرت منتخب حکومت ته انتقال شي . له دې نه پرته دحل لاربله نشته . که له اردونه څوک له مجاهدینو سره یوځای کیږي ، اودمجاهدینو مرسته کوي موږددې خبرې تضمین کووچې مجاهدین به ددغسې کسانو تقدیر اوتمجید کوي، هغوي به دمجاهدینو په خوا کې مصئون اوخوندي وي . دهغوي حیثیت ته ابرو اومال وځان ته به بې هیڅ ډول صدمه نه رسیږي ، هرهغه څوک چې دمجاهدینو دعمومي عفوي نه په استفادې سره درژیم له څنګ نه رابېل شي ، دمجاهدینو په خواکې ودرېږي اودرژیم په خلاف کوم اقدام کې هم برخه واخلي ، مجاهدین به ددې کسانو تقدیر اوتمجید کوي .

دکونړدحالاتو په باب څرګندوني

زه له دې موقع نه په استفادې سره مختصر ډول دکنړ دپېښې په هکله هم ورونو ته معلومات ورکوم چې شاید دډېروکسانو سره دې خبرې تشویش راپیدا کړي وي .

حقیقت دادې چې په کنړکې څوورځې دمخه دیوتنظیم دري مرکزونه دبل له ویرې نه حزب اسلام ته تسلیم شول اوبیا خپلومرکزونو بې دحزب اسلامي بیرغ اوچت کړ . بل تنظیم چې بې ځایه غرور په کې راپیدا شوي دیوخاص ملك وسیع امکاناتو هغه مغرور کړي اوهغه بې دیوخاص مقصد لپاره جوړکړي ، ددې لپاره چې په افغان ولس کې مذهبي اختلافات راپیداکړي اوددې لپاره چې ددې ډلي نه په استفادې سره دمجاهدینو په خلاف عربي ملکونوکې منفي تبلیغات وکړي اوخلکوته ووایي چې دلته څوجنګ دکمونیستانو اومشرکینو ترمنځ روان دې ، په مجاهدینو کې خرافات دي ، دا مجاهدین ندې ، دوي اسلامي حکومت نه غواړي، داټول مشرکین دي ، افغان ولس ټول مشرك دي ، غیردپنځولسوکسانونه چې ددوې ډلي ته راغونډ شوي او دهغه ملك معاش اخلي، نورټول مشرکین د ي. دې ملك غوښتل چې په خپل قوم کې هم دااحساس راپیدا کړي چې ددې جهاد نه متأثر نشي او دوي هم جهادي روحیه اختیارنکړي . برعکس داسې وګڼي چې داخو بايد دمجاهدینو له منځ نه یوه ډله واي ، په خپلو مجلوکې هم لیکي چې دلته جنګ دمشرکینو او دکمونیستانو ترمنځ روان دې . داډله چې دغو وسیعو امکاناتو شاید دوکه کړي اوبیا مغرور کړي وه عکس العمل بې وښود ، محکې او ځاي ځاي کې هم دتلاشي نقاط او پوستي اچولي وې ، بیا بې دحزب دتګ راتګ په لاره کې پوسته واچوله مولوي صاحب فقیرالله دحزب اسلامي دکنړدولایت دجهاد امیرچې کله له خپل مرکزنه غواړي غونډته دعباس (رض) قرقې ته راشي ، دتفتیش پدې نقطه اومحل هغه منع کوي اوهغه ګرځوي . طبیعي ده هغه هم عکس العمل ښیي ، هغه هم پخپل کنترول لاندې منطقه کې همداسې یوپاټك اچولي چې اوس ته به هم له اجازې نه پرته نه تیریږي . دابله ډله شدید عکس العمل ښیي . دښیې له خواپه همدې مرکزحمله کوي جنګ واقع کیږي .

موږله دغوجنګونونه کرکه لرواو دهغه مخالفت کوو. له دې نه ډډه کوو، نه غواړو چې زموږ مجاهدین دې په داسې جنګونو کې ملوث شي ، ولې دېته هم نه یوتیارچې زموږحوصله دې نوروته جرأت ورکړي اوهغه دې مغرورکړي ، زموږ موقف دادې چې په هرولایت کې ټولو تنظیمونوته ددعوت اوفعالیت حق شته ، کولاې شي مرکزونه ولري افراد تنظیم کړي ، دعوت وچلوي ، هیڅوك حق نلري چې خپله اداره په زور په یوې منطقې باندې تحمیل کړي ، موږ داکارتراوسه پورې ندې کړي .

دلته هم ددې حق نه ورکوو، موږحوصله وکړه ، دې ډلي نورټول تنظیمونه له خپلې منطقې نه وایستل دهغوي مرکزونه بې ونیول ، موږمداخله ونکړه ، پرېموښودل چې دوې خپل مسائل پخپلو منځونو کې پخپله حل کړي ، ولې دازموږ اشتباه وه، بايد هلته مو دهغوي نه دفاع کړې وای ترڅو هغه دې حدته نه واي رسیدلای چې اوس له حزب سره دټکراوتصادم اراده کوي. موږ داخلي جنګونه په قاطعیت اوشدت سره محکوموو او ددې مخالف یو اوداددښمن په ګټه دي ، همداوجه ده چې ماپه همغه اوله ورځ یوهیئات ټاکلی، منطقې ته مولیږلي ، چې ولاړشي ، دجنګ مخنیوي وکړي ، طبیعي ده زموږهم په زرګونومجاهدین منطقې ته کوزشوي ، خوموږنه غواړو چې داجنګ دې پیښ شي ، موږپه صلحه اوروغې جوړې سره ددې مسئلي حل وفصل غواړو . زموږ هدف دادې چې هرتنظیم دې په هرولایت کې دآزاد فعالیت حیثیت لري که اداره جوړیږي ، دټولو په اتفاق سره به جوړه شي .

که دولایت په سطحه وي که دکلي په سطحه وي د یوې ولسوالي په سطحه وي ، اداره به دټولو په اتفاق اودملت په خوښه جوړیږي ، که هرڅوك په خپل کلي کې بیرغ اوچت کړي اوهلته یوحکومت اعلان کړي داخوملوك الطوائفي ده او په لس ګونو دولتونه جوړیږي .

ماهغې ډلي ته ویلي چې که دکنړخلکو یواځې دیبج په دره کې داتنظیم ومنلو زه بې په ټول کنړ کې منم . زموږ موقف دادې چې په ټول افغانستان کې به یوه مشترکا اداره دملت په خوښه جوړیږي . په زور به اداره نه تحمیلوو . په زور به خپل حکومت په افغان ولس نه تحمیلوو .

موږپهاصلاحیته هیئات لیږلي ، ترڅومسئله حل وفصل شي ، اماکه نورلجاجت وکړي اوپه جنګ ټینګاروکړي ، مسئولیت به بې دهغوي په غاړه وي ، خطرناك عاقبت به هغوته متوجه وي او مسئولیت به هم دهغوي په غاړه وي ان شاء الله امیدواریم چې هیڅ پیښه ونشي اودامسئله په روغه جوړه سره حل وفصل شي ، زموږموقف همدا دي ، ترپایه پایه به ددې کوشش کوو باصلاحیته هیئات تللي امیددې چې دامشکل ډېر ژرحل شي .

زه ورونوته اطمینان ورکوم چې انشاء الله آینده دمجاهدینو ده ، آینده داسلام ده اوپه افغانستان کې به دمجاهدینو په لاس اسلامي حکومت قائمیږي .

وآخردعوانااِن الحمدلله رب العالمین .

دهندسیاسي بحران اوراتلونکي یي

«رحماني»

هند په ټوله نړې کې دویم لوي اوله نفوس څخه ډك هیواد دې ، د (۹۰۰) نهه سوه ملیونو په شاوخوا کې خلك یکې ژوند کوي چې په سلګونوډیو خبرې کوي او په سلګونو ډول ډول مذهبونه لري ، د ډول ډول تضادونو مرکب هیواد دې څوك دتیږو پرستش کوي ، څوك د حیواناتو او څوك هم ځانګړي طبقه انسانان د خپل معبود په حیث پیژني هند بوازنۍ هیواددې چې د خرافاتو مجموعه ده دلته ډیر خلك دخپل بت د خوشحالولو لپاره ځان سیځل فخراو دینې ثورب ګڼي .

په ټول هندکې داسې واحده ژبه نشته چې دشمال اوجنوب شرق اوغرب ترمنځ درابطې ژبه وي، بوازې دانګریزي استعمارنه پاتې انګریزي ژبه ده چې دباسوادوخلکوارتباط پرې ټینګیداي شي . غربت اوافلاس خپل وروستي حدته رسیدلي ، اکثرخلك دعمومي سرکونو اوپارکونو په څنډوله مورنه پیداکیږي ، لوتیري اوپه همدې ځاي کې ژوندله لاسه ورکوي. دهیواد ترټولو غټ اکثریت چې دهریجن په نامه یادیږي نه دراپې حق لري اونه هم په حکومتي چاروکي دګډون اومداخلت حق. ددموکراسي دټولي ادعاسره سره چې هندي واکمن بې نغاړي وهي هریجن ټیټه اوسپکه طبقه بلل کیږي چې له غلامي پرته بله وظیفه نلري تیرکال همدې طبقي ته دحقوقو په غلوړي طبقې خلکومظاهري پیل کړي ګڼ شمیرې ځانونه و سیځل ځینې طبقې اوډلي خولادزرګونوپېړیوپخوانې خرافات لاتراوسه پالي چې دمیړه دمړینې په وخت کې ژوندي ښځه ورسره یوځای سوځول کیږي ، ددې په څنګ کې دسك مذهب پیروان اودبوسل اوپنځوس ملیونو په شاوخواکې مسلمانان یکې ژوند کوي ، چې دهندومذهبوله خوادزیاتو حقوقو څخه محروم شوي دي ، دهندازادی اودپاکستان ترجوړیدو وروسته په ٤٤ کالوکې په زرګونو مسلمانان دهندي غاصبانو اوجاهلانو ښکارشوي اوپه شهادت رسیدلي دي .

دهندټولنه دسیکولر نظام دادعاسره سره اوس دیووچ مذهبي تعصب په لورروانه ده ، دهندي مذهب متعصبو پیروانو دنوروټولو مذهبو په پیروانو خصوصا په مسلمانانو باندې چې په هندکې لوي اقلیت دي، ژوند اور کړي ، په سلګونو جوماتو ته یې په شهادت رسولي اودنورو دورانولو لپاره یې منظم پلان اوپروګرام په کاراچولي دي . په سیاسي لحاظ ټولنه په ډیربیرخوریشل شوي دسلګونو مذهبونو ترڅنګ سلګونه سیاسي ګوندونه هم رازرغون شوي، خوترټولومهم چې اوس دسیاست ډګرته راوتلي کانګرس اي ، جنتادل اوبهارتیه جنتا (دهندوانو مذهبي ګوند) دي کمونستان او سوسیالستان هم په ځینې ایالتوکي اکثریت لري) ولي دهندآزادي په ټول ٤٤ کلن تاریخ کې دکانګرس آي ګوند ۳۸ کاله په واك کې پاتې شوي اونوروګوندونو بوازې شپږکاله حکومت ګړېدي .

لکه څنګه چې مخکې موږویل چې په هندکې انسانان دانسانانو عبادت کوي، په مذهبي چاروکې خوبرېږدې چې په سیاسي اموروکې هم دغه کارروان دي ، همداوجه ده چې هندوانو ته دپنډت موتي لعل نهروخاندان چې اصلا کشمیري اوپه اتراپردیش کې اوسي دزیات احترام وړدي اوهمدغه خاندان دې چې دهند په لویه اوپراخه ټولنه یې له آزادي وروسته ۳۸ کاله حکومت کړي اوکانګرس اي اصلاً یوخانداني ګوند ګرځیدلي .

همدانهرو۱۹٤٦ کال دمتحده هندوستان دعبوري دوري صدراعظم و، اوبیا له آزادي وروسته له ۱۹٤۷ کال څخه تر۱۹٦٤ پورې یرهندواکمن و، دهغه له مړیني وروسته بهادرشاستري ددووکالولپاره دهندصدراعظم شوخو له مړیني څخه وروسته یې یوځل بیا اقتدار دنهروخاندان ته انتقال شو اودنهرولوراندراجي دپارسي مذهبه فیروزګاندي ښځه وه ، دکانګرس ګوند اودحکومت دواړو مشره شوه ، تر ۱۹۸٤ کال پورې یې حکومت وکړ بوازې د ۷۷ - ۱۹۷۹ کالو په منځ کې مرارجي دیساي اوچرن سنګ په واك کې پاتې شول اووروستي ۱۹۸۸ پورې بیادنهرولمسی راجیوګاندي دخپلې مورله وژل کیدو وروسته چې دسکانو له خوا ووژل شوه دقدرت په ګدي کیناست، کله چې په کال ۱۹۸۸ انتخاباتو کې کانګرس ګوند پایه بل عبارت دنهروخاندان دټول ولس اکثریت ترلاسه نکړنو دجنتادل مشر وي، پي سنګ صدراعظم شو، ولې له لنډي مودې وروسته چې چندرشیکر دهنداوسني موقتي صدراعظم له هغه نه بیل شول نودجنتادل حکومت هم مات شو، وریسې چندشیکرهم دوام ونه کړاوپه روانه عیسوي میاشت (مې) کې بیاانتخاباتو بهیرپیل شو اوپکې دري ګوندونه رادبره شول کانګرس آي چې دکامیابیدو احتمال بې قوي و، متعصبه مذهبي بهارتیه جنتا اودوي ، پي ، سنګ جنتادل ، بهارتیه جنتا پارټي هم دمذهبي تعصب داوربلولو په اساس ډیره پرمخ روانه ده ، دکانګرس مشر را جیوګاندي په خپل مبارزاتي فعالیت کې دغه ټکي خلکوته رساوه چې دهند یووالي ، استحکام ، ځمکني تمامیت اواقتصادي پرمختګ ضامن دکانګرس آي ګوند اوپایه بله اصطلاح دنهروخاندان دي . دهند په ټولنه کې دغه خبره ترډیره حده واقعیت هم وه، ځکه چې کله دغه خاندان اودهغه ګوند له قدرت نه محروم شوي دهندټولنه له سخت سیاسي اواقتصادي بحران سره مخامخ شویده ، تیردوه کالونه ددې مدعا یومهم اوعمده ثبوت هم دي .

خواوس چې دهندټولنه له دوو کالو راهیسې له سخت بحران سره مخامخ ده ، له یوې خوا مذهبي تمایلات اوهندومذهبي تعصب په چټکې سره په ټولنه کې خپرېږي ، له بلې خوادایالتي خودمختاري اورتاره کیږي ، سکان خالصتان غواړي اوکشمیر دمسلمانانو دغورځنګ ځپونیولي دي او...

اودخپل استقلال هرو یې کوښي تامیلیان دیش جوړاو...

په همدې وخت کې دهند دترټولو لوي ګوند اومشهورسیاسي خاندان دمشرراجیوګاندي وژل هندله ډیرسترمصیبت سره مخامخ کړي . دراجیووژل ګیدل په دغه خانداني کانګرس ګوند چې په مشکل وخت کې دامیدسترګي وراوښتي یه څو برخو ویشي اوهم به دمتعصبو دمذهبي هندوانو دجرې خوګه تیزه اوهندبه ٔوحشت په ټولنه بدل کړي .

که څه هم داسې تصورکیږي چې دراجیووژل به په لومړي سرکي دانتخاباتو په دوهم اودریم دورکي چې دجون په ۱۲ او ۱۵ ورځ کیږي دکانګرس سره دخلکوخواخوږي زیاته کړي اوکیدای شي دغه ګوند بریالی شي ، خوپه دې ګوند کې اوس بل داسې شخصیت نشته چې دراجیوځاي ونیسي اوټول ګوند پرې راټول او بهارتیه جنتامذهبي عصبیت مات کړي اوس دنارسمهار او، مکرجي اواین دي تیواري نوموته اخیستل کیږي خوپدې کې یوهم داسې نه دي چې بل یې ومني اوحزب پرې راټول شي .

له بلې خوادجنتادل مشروي، پي ، سنګ هم دهندي ټولني درهبرۍ لپاره مورول شخصیت نیکاري ، دمسلمانانو همدردي هم له ده سره ده خو هغه دهند دفعلي صدراعظم چندرشیکر دحلاکېدوله امله به دې ممکن قادرنشي چې اکثریت ترلاسه کړي . نودحالاتو نه داسې ښکاري چې له دې وروسته به هندي ټولنه له زیاتیدونکي سیاسي بحران اوکشمکش سره مخامخ شي .

اکثر سیاسي کتونکي په دې عقیده دي چې دراجیوله له ناڅاپي وژلو وروسته دهند راتلونکي ډیره تیاره ده اوهند به ډیر ژر خپل انجام ته ورسیږي .

دنهروخاندان له وروستیو ځلوروواکمنو وروسته اوس داسې څوك په هندکې نه ښکاري چې یادي ګوند پرې راټول شي اویا هیواد .

دکانګرس مشرانو دهمدې خطرداحنیوي په غرض دراجیوګونده سونیا که څه هم ایټالوي نژاده ده اوتر ۱۹۸۳ پورې یې دهند تابعیت هم نه درلود دګوند دمشرۍ لپاره نامزده کړه چې خلك یرې راټول شي . دسونیا دانکار سره مشکل نورهم زیات شو، اوس به دمشرتابه لپاره دحریفانو ترمنځ سخت کشمکش روان وي .

خوکه فرضا سونیا دېته حاضره هم شي چې که څه هم په سمبولیك ډول دګوند مشري ومني ،نوداکاربه داوپدې مودې لپاره نتیجه ورنکړي ، په لومړي سرکې به دګوند په بریالیتوب منتیج شي اودهندي ټولني خواخوږي به ځان ته راواړوي ، خو وروسته دغه شکل چې سونیا دپردي هیواد تبعه اوپیوه مسیحي کاتولیکه ده په خپل ځای پاتې کیږي ، اکثر مشران اوخلك دېته حاضرنه دي چې دهغې ملاتړوکړي . نو خامخا به بیاهم سیاسي کشمکش راځي اودهند ټولنه به له نوي کیدوسره مخامخ کوي .

داسلامي حکومت ...

سیاسي حل " به فارمول کې دروس اوامریکا نه لازیاته دلچسپي لري ، خو دومره لوي مسئولیت ته اوږه ورکول اوداسلامي امت دښمني اخیستل هم وړه اوساده خبره نه ده . داملت شاه شجاعان اوببرکان هم پیژني اوابدالي اوغزنوي هم ، خوموږپداسې حال کې چې له اسلامي حکومت پرته هره تګلاره یوکافرانه سازش ګڼو، لرویرته اخطارورکوو، چې پدې لاره هرګام اخیستل به ورته دسرپه بیه وغورځیږي ، چې برغلګروس یې ژوندي مثال دي .

زمزمه حل سیاسي

امروز فرق دارد . امروز ارتش روس واپس رفته تمام گروه ها ازحل این مسئله عاجز مانده ، روس ها گرفتار مسایل خودشان شده اند . امریکا ازامداد به تنگ آمده وپاکستان باربیشتر ازسه ملیون مهاجر رابدوش مي کشد. وماممتقدیم که مردم آنجا (افغانستان) مستقبل خویش راخود فیصله کنند .

اظهارات شهریار سکرتر خارجهٔ وزارت پاکستان نمایانگر این مطلب است که روس وامریکا طرفدار جدي حل مسئله اندویش ازین توان حمل این کوله بار راندارند . روس ها شاید به تنگ آمده باشند زیرا وضع موجود آنکشور، این حالت رااقتضا دارد وامریکا ازآن بیم دارد که بایکسو رفتن روسیه توان آنراانخواهد داشت که دربرابر مجاهدین بایه اصطلاح بنیادگرایان مقاومت کند درآن صورت ناچار است به موجودیت حکومت اسلامي درافغانستان تن دردهد واین کاربراي امریکا شکست محسوب خواهد گشت شك نخواهد بودکه حکومت فعلي آنکشور مقصر آن تلقي گردد، درانتخابات آینده آنکشور اثربگذارد .

خلاصه فعالیت هاي فعلي درمورد قضیه افغانستان آنطوریکه از اظهارات اکرم ذکي سکرترجنرال وشهریارسکرتروزارت خارجه پاکستان برمي آید این است که یك گروه غیررسمي مجاهدین بوجود آورده شود ، یك حکومت غیروابسته تاسیس گردد وتحت نظر سازمان ملل انتخابات شود اگرحکومت نجیب هم کامیاب شود هم حکومت پاکستان حاضراست آنراپبذیرد .

ازین اظهارات چنین نتیجه گرفته میشود که حکومت انتقالي درنظرگرفته شده که درآن ازطرف مجاهدین یك هیئت غیررسمي یعني متعلق به هیچ حزبي نباشد بوجود بیاید وباشمول افغانان که درغرب هستند وجانب داري ازامریکا واهدافش مي نمایند ولمایند، گان حکومت فعلي که از اهداف وامیال روس ها پشتیباني مي کند بوجود آورده شود وبعد انتخابات برگزار گردد دوراًن . آنهائیکه خون شان ریختانده شده باآنهائیکه دست شان تاآرنج درخون ملت سرخ است انتخابات برگزار نمایند وسعي کنند باچنین بهانه هاي، انقلاب ودست آوردهاي آنرا به تاراج برند .

شایداظهارآقاي مجددي که اگر دریك دوره انتقالي، دیگران اگر موجودیت نجیب را درراس قدرت بپذیرند ما حرفي نداریم ، اشاره به همین هیئت وگروه غیررسمي داشته باشد که وظیفه حکومت انتقالي راخواهد داشت .

به هرصورت این توطئه آخر، ضرورت به بیداري سیاسیون واستقامت بیشترمجاهدین سنگر دارد . جریان اوضاع وزمان لحظه به لحظه پیروزي مجاهدین را نمایش مي دهد، فقط غفلت وتصمیم هاي نادرست واعمال وافعال ناسنجیده ماشاید سبب شود که این موقفیت تاریخي ومثمر را ازدست بدهیم . پس مي باید بادقت مواظب باشیم وازآن حذرنمایم.

پاسخ هاي امیر حزب اسلامي به ...

افتتاحیه تان فرمودید ماموریکه بست هاي شان حذف شده باید به جهاد بروند وثبت نام نمایند ، چرا اعضاي اجرائیه راهم منفك نمیکنید زیرا درشوري اجرائیه اشخاصي هم وجود دارد که ازاول جهاد تاحال به افغانستان نرفته اند ؟

جواب : شماحق دارید این نوع اعتراضات رابکنید ولي الحمدالله اجرائیه مااجرائیه یي است که ازمجاهدین سابقه دارحزب تشکیل شده ، ازبرادران مجاهدیکه طول عمرشانرا درین تحریك وقف کرده اند ومثل شمامجاهدیني اند که درسنگرها تربیه شده اند ودرسنگرهارشدیافته اند ویه تدریج به این مرحله رسیده اند وازاولین روزهاي تاسیس این نهضت تاحال درفرازونشیب و خم وپیچ این تحریك زندگي کرده اندویه این مقام رسیده اند آنهاخودنیامده اند بلکه شما آنهارابه اجرائیه آورده اید . شما راي داده اید تا عضو شوراشده اند شماراي داده اید تا عضو اجرائیه شده اند ، پس شماانتخاب کرده اید وکسي ازبالابرشما تحمیل نکرده است ، درین اجرائیه هیچکس هم وجود ندارد که اواول ازطرف خود ارکان واعضاي حزب انتخاب نشده باشد. معني اش اینست که شما براواعتماد دارید . اورا مجاهدمي شمارید . او قرباني داده ودر جهاد شرکت کرده واهلیت وکفایت این مقام رادارد بعدشورا به نمایندگي شما این راي را داده اند ومن به اساس تشخیص خود ازین اعضاي شورا انتخاب کردم برادرانیکه شایستگي این مقام را داشته اند آنهارا نامزدکرده ام برادران به آنها راي داده وآنهارابه این مقام رسانده اند . شما کوشش کنید کسانیکه جهاد نکرده به شورانفرستید ، هرکه جهادنکرده باشد ، من به شمامیگویم که به اوراي ندهید، کسیکه به شورا نیامدبه اجرائیه هم نمي آید .

فردفرد ما باید مجاهد باشیم . اجرائیه مابا ید ازهمه بیشتر مجاهدباشد اعضاي این اجرائیه هیچکدام شان خواهان عضویت دراجرائیه نیستند . باورکنید هرکدام آنها این را ترجیح میدهند که وظیفه اداري رادرینجا ترك بگویند ویه سنگرفرستاده شوند .

درست که ما بست ها اضافي را حذف کرده ایم و حتي درمورد اجرائیه هم برادران تصمیم گرفته اند که ریاست ها محدودشوند ، من میتوانم فیصله اجرائیه رابه شمانشان بدهم که اجرائیه حتي بست هاي خویش راهم حذف کرده است . ولي تاهنوز شکل رسمي بخودنگرفته ویه عنوان فیصله اجرائیه وجود دارد .

برادران خواستند که یك تشکیل محدود براي اجرائیه بسازند چندین کمیته هارا باهم مدغم بسازند معني اش اینست که اینها روساي اجرائیه راهم حذف کرده اند . اگر خواسته باشید من تمام تفصیلات رابراي شمامیگویم که تاهنوز شکل رسمي را بخودنگرفته وفعلا درحد فیصله اجرائیه است . آنهاراضي هستند ورای داده اند که بهتراست شکل اجرائیه تغیرکند .

اگرهمین تصمیم عملي شد و شکل رسمي به خود گرفت ، این برادران رادرسنگردرپهلوي خودمیابید.

په باره کې د تنظیم اتحاد علماي قبایل لومړي کلیزه ولمانځل شوه

خبریالان : محمد عارف " رحیمي " محبوب الله "محمدیار"

باړه دغبرګولي ٤ :

دمې په ۲۵ مه چې دغبرګولي د٤ نیټې سره سمون خوري تنظیم علمایقبایل خپل تنظیم د لومړي کلیزې نمانځلو په مناسبت په خپل مرکزباړه کې یوه شانداره غونډه وکړه ، دغه غونډه چې دقبائلي سیمو د ۸ ایجنسیو علماوو، سپین ږیرو اوقومي مشرانو برخه درلوده ، دسهارپه ۸ بجو دقرآن عظیم الشان دځومبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شو .

په سرکې دپروګرام مطابق قومي مشرانو هریوه عبدالله خان، حاجي متاخان ، حاجي آرمان شاه ، آخندزاده ، ثمرخیل صاحب دسیدخان پرځاي چې دیوه قوم نماینده وو ظفرخان ، حاجي زرباز خان دخپلو قومونو په نمایندګي ویناوې وکړې او خپل ملاتړاومرسته ئې له نوموړي تنظیم سره څرګنده کړه اوداسلامي شریعت دنفاذ په باب ئې هرې قرباني ته تیاري وښوده وریسې دملك الدین خیلو قوم لوي عالم حضرت مولنا غلام علي دخپلې وینا په یوه برخه کې داسې وویل : دادخداي (ج) لوي شکر اورحمت دې چې موږ په یوه اسلامي فکر اودیوه واحد اسلامي قانون دنفاذ تربیرغ لاندې راټول شوي یو موږ ددې قانون دنفاذ لپاره هره ډول قرباني ته تیار شو اوله هیڅ ډول ستونزو نه ځان ونه سپموو .

دهغې نه وروسته دباجوړ ایجنسي یوه جید عالم مولوي احمد نوردخپلې ایجنسي دیوه نماینده په توګه دخپلې وینا په یوه برخه کې وویل : درسالت اونبوت نه مخې کې دهرقوم داسې حالت وچې زما مال اوناموس که بېرون ته ووزي دابه په امن پاتې نشي څوکوم وخت چې اسلامي خلافت جوړشو نو دمسلمانانو ټول امانات په امن شول موږ دباجوړ ایجنسي ټول عالمان اوملګري به دحق دلارې له ټینګانو سره په څنګ کې ولاړ وو که په خیبرکې وي که په کرمه کې وي که په پاکستان افغانستان اوبانورو ملکونو کې. زه دباجوړ ایجنسي دعلماوو اوقومونو په نماینده کې تاسو ته اطمینان درکوم چې موږ به انشاء الله ستاسو ملاتړکووکچیرې چاستاسو دتنظیم خرابوالي وغوښت اوددې کوشش ئې وکړ زموږ علماء کرام ستاسو خدمت ته حاضردي له هغه نه وروسته دجماعت اسلامي نامتو شاعر عبدالرحمن نوموړي جلسه دخپل شعر په ویلو لاښاېسته کړه بیا شیخ القرآن والحدیث حضرت مولنا عنایت الرحمن صاحب داسلامي قوانینو دنفاذ په باب دخپل تقریر په یوه برخه کې داسې وویل څوك چې په چا الزام ولګوي چې دې غیراسلامي عمل وکړ اودا عمل بیا پرې ثابت شي باید هغې ته لازمه جزا ورکړشي .

دهغې نه وروسته حاجي دوست محمد ، مهمند دمهمندو ایجنسي شیخ الحدیث والقرآن مولنا عبدالسلام دحزب اسلامي افغانستان دجماعت علما اسلام دکمیټي مشرقاري صاحب مومن اودتنظیم اتحاد علما قبائل معاون خصوصي مولنا استاد جلالي ارزښناکې وینا وې وکړې دجلسې په وروستي برخه کې دتنظیم اتحاد علماقبائل امیرمحمد مجاهد صاحب ولاندې مادودتطبیق اونفاذ په باب لمړي وینا او وروسته ئې دنوموړومادو جرم په باب داسې لارښونه وکړه :

١- زموږ اسلامي قانون سود نه مني که

(٦مخ)

طرح کوئیار یا ...

باشد مذاکراتي دراین موردصورت گیرد باید باروسها باشد زیراایشان مالك الرقاب رژیم مزدورکابل بوده وازتابي چون نجیب ازخود اختیاري ندارند پس طرح کوئیار به همان شدتي که پیشنهادات نجیب مزدور روس ها رودگردیده ازطرف ملت مسلمان افغانستان مردود میباشد واگربا لفرض عده یي که درسنگر هاي خونین جهاد حضورنداشته اند بخواهند ازطریق این طرح توهین آمیز به کرسي هاي وزارت وصدارت برسند نیزبکجاباانجیب مزدوردرکشتي شکسته اش درامواج طوفان خشم ملت مومن ومجاهد افغانستان غرق خواهند شد هرچند به نظرمن مستحیل است که کسي جرأت کند درچنین اوضاع واحوالي که نجیب دردوقدمي ، مرگ قرارگرفته سرنوشت خودرابه سرنوشت اوپیوند زند واما کوئیارباید اوراق پیشنهادي خودراپس گرفته وآنرا درجیب بالایي خویش بگذارد زیرا اگر درراه کاستن ازمصیبت ها وآلام مردم افغانستان کاري نکرده است نباید دست به عملي زند که درد هاورنج هاي این ملت راطولاني سازد ویگذارد که ماخود حساب خویش را باگروه ملحد جنایتکارتصفیه بنمائیم درحالیکه همه ودرراس کوئیارمیداند که مااابن تصفیه حساب فاصله خیلي کوتاهي داریم .

ارشاد نبوي

خشم بیجا ، زاده ي شیطان است .
وشیطان زاده ي آتش است . یقیناً که
آتش بوسیلهٔ آب خاموش میگردد . پس
هرکسي ازشما که خشمگین شد ،مي باید
وضوکند .

داسلامي حکومت دمخنیوي وروستي هلي ځلي

دعراق غوندي دیهودودجارحیت مخه نیول پکاردي ، اودا زورغاصب باید په همدومره قوت وځپل شي، نو که امریکا اولویدیځ په دي هکله له زور اوځواك نه په کوم کم شي راضي کیږي ، نوځرګنده وه اوده ، چي دنړي دامن دعوه ګیر دموراومیري سلوك کړي اوتل بي کړي دي. په نړیواسلامي هیوادونو کي دنړیوال ښکیلاك دظالمانه اوغاصبانه چلندنه په صرف نظرکه موږځپل جهاد اوخپلي قضیي ته وګورو ، نو په ډیرحساس پړاوکي ځاي لري . لویدیځ دمرستوله ټولنو نه ټولي ترفرهنګي ستګرونو پوري خپل ټول وسایل دي ته استخدام کړي ، چي دمجاهدینو په باب نړیوال ذهن مغشوش اوبیا داوښیي چي پوځي بري بي هیڅ ممکن نه دي . که څه هم دخوست فتحي اوبیا دمجاهدینو ورځ په ورځ وړاندي تګ بي اندیښني پوره څرګندي، خومتاسفانه دامریکا اولویدیځ له خواپه خلیج کي داسلامي نړي مرعوبیدل هغه څپي دي، چي زموږ جهاد پرمخ وهي، اونړیوال تناظروته تکتي کوي . ځوکه دافغان جهاد پروخت دنړي سیاسي بهیرمطالعه کړو بهانوځرګندیږي ، چي داجهادله مقامیت نه وتي ، اودنړي ګوټ ګوټ بي افاقیت پدرګه کوي .

همداجهاد ؤ، چي نړي بي په یوه ښکرودروله اوبیرقطبه بي کړه ، له مسلمانوپښت پالو نه دامریکا ویره په هیڅ ډول له روس نه کمه نه ده ، اوداځکه نن غاړه غړي په یوه اوبل نامه دمجاهدینو داسلامي حکومت مخه نیسي . همدااوس په منځني آسیا کي دروس دسرحدي پوځونو دقوماندانانو مرستیال جنرال " اناتولي مارتووتسکي " دتاجکستان دمرکزدوشنبي په ښارکي یوه مطبوعاتي کنفرانس نه پخپله وینا کي وویل چي " افغاني مجاهدینو دروس دجنوبي پولو دناآرامي له کاره لاس نه دي اخیستي ، اویه تیرو اتلسومیاشتو کي دافغانستان له پولي دیرش ځلي داډول زیارګالل شوي دي . چي پکي دپولي پرساتونکو دزي ، په سرکونو میتونه فرش کول اودتخریبي ادبیاتو اولیکنوویشل شامل دي، له پولوته دا رااوستل اوس زیات شوي، اودسیندنه دسروزروودویستلواوحیراناتو دځرولو په بهانه سرته رسي . دي جنرال زیاته کړه ، چي له افغانستان سره دتاجکستان دپولي برخه نن سبا دمسلمانو بنسټپالو دسختي پاملرني دړګرځیدلي ده " .

پدي ارتباط صورپه وثوق ویلي شو، چي افغان جهاد دخپل کیفیت اوځرنګوالي له مخي روس اودامریکا په مشري لویدیځ ته یوډول اهمیت لري، که مجاهدینو کمونیزم مات اودروس پولي څه چي دروس دننه بي هم دانقلاب هنګامي رااوچتي کړي ، نوامریکا اولویدیځ ته هم ورته چیلنج اوپه نړیوال دګریي دراپرځرولو ځواك اومتره لري . نواوس چي مجاهدین دبري وروستي پړاوونه وهي ، اودبشپړي فتحي لمریي په راختودي . نویوناڅاپه دنړیوال متحدکفر سیاسي اوتبلیغاتي ماشین په حرکت راغلي، اودادي ، پدي برخه کي دسیاسي حل وړاندیزونه رامنځ ته شویدي ځوکه په غوروګورو ، داسي یو سیاسي حل چي وارداتي وي ، هغه به څنګه دیوي لسیزي داوردونه دزیات تپي اوزخمي افغانستان لپاره دومل وګرځي دسیاسي حل کوم فارمول چي نن سباعنوانیږي ، دنړیوال کفرله ښکیلاکي چلوتي پرته بله څه معنی نه لري. دکابل مزدوررژیم ته په اقتدار کي برخه ورکول اوبیا وورسره انتخابات کول دي مکروه اومسخه شوي څیري ته دپردي وراغوستل دي .

هغه حکومت چي شپه ورځ په روسي ټانکونو کي کلابنداو له دي لاري خپل ذلت آمیزه ژوند تیروي ، دالازمه ده ،چي له یونیم ملیون نه دزیاتو شهیدانووارثان دي ورسره داتنخاباتوقانوني لاره خپله کړي !

همداول پدي ټاکونکو شیبوکي دځینو جهادي مشرانو بي ځایه اوبي مسئولیته بهرني سفرونه دښمنانو اودئور کودتاچیانو ته دحوصلي ورکولو په مانا دي ، ځکه چي که دکابل دګرواګي رژیم منسوبین پدي پوه شي، چي له مجاهدینو سره په حکومتي سرپه دتفاهم کومه لاره نشته ، نوپه انفرادي ډول د ځان ژغورني لاري چاري لټوي، اوتیښتي . ددښمن جنګي مورال راپریوتل دهغه دتسلیمیدلو سره برابردي . خوموږ نه پوهیږو ، ولي ځیني مشران له خپلي ښري نه پښي وباسي ، اوپه جهاد کي دخپلي ونډي له تناسبه ځان غوڅنده اوردغځوي ، اوله هرڅه نه او " اتحاد ا " او" موقت حکومت ا" خبره جوړوي، چي نن سبادخپلومامورینو اوښورونکودسختي کلابندي اومحاصري خطره تري راتاوده ، دوي څه فکرکوي، چي هغه هیوادته بي سفرندي کړي، چي دنجیب له غیرقانوني حکومت سره دسري میاشتي په نامه مرسته کوي، اویاداسلام او افغانانو دښمن ګرواګي نجیب پخپل هیوادکي میلمه کوي ! فرضوو، چي بهرني مرستي بندي ، او دښکیلاك ګرديرځي موږرضدودریدل نوموږبه څه کوو! چاته به مراجعه کوو. دمسلمان دورستنیدوځایونه کوم دي . دقرآن عظیم الشان لارښوونې اونبوي (ص) سنت . ځرګنده ده ، چي داسلام سترپیغمبر صلی الله علیه وسلم دقتني نړشپړورکاوي پوري جهاد کړي دي. داسیاسي حل ، بلتي اوسفرونه تش یومصروفیت د ي، چي دمجاهدینو داغفال اودجهاد دسپولولپاره رامنځ ته کیږي . اوس دمنځني آسیادپولوترځنګ دمسلمانوفعالینو حکومت نشي زغملي . همداډول ځیني اسلامي هیوادونه متاسفانه دخپل مقامیت له تنګنانه قضاوت کوي، اودنړولي نړي دمسلمانانو لپاره دامتفق علیه انقلاب خپل کسرشان ګڼي ، اودا ځکه د"

[ص ٤]

دحزب اسلامي امیرورور حکمتیار دآزاد کشمیر په نړیوال اسلامي کنفرانس کي ګډون وکړ :

میرپور دجوزا ۲ مه :

تیره پنجشنبي دآزاد کشمیر دمیرپور ښاردقاید اعظم ستوډیوم په تالارکي دجموا وکشمیر داسلامي جمعیت طلبه تراهتمام لاندي پلوري نړیوال کنفرانس جوړشوي ؤ.

په دغه کنفرانس کي دحزب اسلامي امیرورور حکمتیار ، دپاکستان دجماعت اسلامي مشرقاضي حسین احمد، دکشمیر دآزادي نړیوال غورځنګ رئیس ایوب ټاکر، دنیول شوي کشمیر دخلکوداتحاد رئیس فاروق رحماني، دنیول شوي کشمیر دمتحده جهاد شوري امیرعلي، داردنیول شوي کشمیر دحزب المجاهدین مشرسید صلاح الدین ، دحزب المجاهدین امیرغلام محمدصفي، دکشمیر دآزادي تحریک امیراشرف صراف ، دکینیا ابراهیم عثمان دالجزائر مصطفی ابوالعائد ، دچین محمد صالح عیسی دبنګله دیش میرقاسم ، داردن داخوان المسلمین نماینده عدنان ابوسعید دفلسطین دحماس نماینده ابوخلیل دترها داکتر محمدیونس اوګڼ نورومشرانو ګډون کړي ؤاو هر یوه په خپل وارخبري وکړي .

ورور حکمتیار پدي غونډه کي وویل : دخوست له فتحي وروسته به دغه ډول نړیواله غونډه ان شا الله هلته هم دبرژر جوړیږي ، لکه څنګه چي موږدخوست دفتحي جشن ولمانځه ان شاء الله ډیر ژر به دکابل اوسرینګر دفتحو جشنونه هم ولمانځو ، هغه وویل که موږ دحق اوجهاد لاره پرینږدو دونیا هیڅ طاقت موږته ماته نشي راکولاي ، خداي به زموږمرسته کوي ، ورور حکمتیار زیاته کړه دافغانستان ټول مجاهدین دکشمیر دمجاهدینو سره دي ارله هغوي سره هرډول مرستي ته تیاردي ، ان شا الله اوس دکشمیر دآزادي منزل لیري نه دي .

په دغه کنفرانس کي ټولو ویناوالو په دي خبره زورورکړ چي دفلسطین اوکشمیر اوافغانستان دستونزو لپاره باید ټول مسلمانان یوشان دریځ ونیسي دوي ټول مسلمانان دیوجسد حیثیت لري چي یوي غړي ته تکلیف ورسیږي ټول وجود به درد راشي ، باید دمسلمانانو ددښمنانو ارهغو چامخه ونیول شي چي دمسلمانانو اتحاد له منځه وړي .

شهادت

بیانګرعقایه وآرمان هاي حزب اسلامي افغانستان

موسس : انجنیر "حکمتیار"

صاحب امتیاز: حزب اسلامي افغانستان

ناشر : ریاست ارشادوفرهنګ

سال تاسیس : ۱۳۵۷ هجري شمسي

تحت نظرهیئت تحریر

سرمحرر : سیدعلام الدین "اثیر"

مهتمم : فضل ولي "ناګار"

تلفون : ۶۲۷۸۹ - ۳۰۲۲٤ پشاور

پوست بکس (۱٤۶۵) یونیورستي ټاون - پشاور

یك پوسته رژیم کابل درچاریکارفتح شد

پروان :

ګزارش هاي واصله ازولایت پروان حاکي است که مجاهدین همیشه درسنګر حوزه نعمان طي عملیات موفقانه بالاي پوسته هاي رژیم کابل درقریه ترکمان به تاریخ ۲۷ ثور،یك پوسته راباتمام امکانات آن فتح نمودند .

استادفتح محمد مسئول عمومي حوزه نعمان، طي پیامي مي ګوید، بافتح این پوسته پنج تن از افرادآن به اسارت مجاهدین درآمده ، پنج میل کلاشینکوف ، یك میل دکاویك ومقادیر زیادي مهمات مختلف النوع به غنیمت مجاهدین درآمد .

زنان مسلمان کشمیري تظاهرات ګسترده یي را براه انداختند

مظفرآباد - ۳ جوزا :

طبق ګزارش روزنامه مسلم ، هزاران زن مسلمان کشمیر اشغالي تظاهرات ګسترده رابخاطر تقبیح مظالم وکشتار مسلمانان توسط عساکرهندي ازمناطق مولګام ، انتناګ ماګانپوره وکوپوارا براه انداختند .

نیروهاي خونخوارهندي بخاطر جلوګیري ازتظاهرات خشم آلود، زنان مسلمان به ګاز اشك آوروفیرهاي هوائي متوسل شدند که درین حادثه ،ده، زن مسلمان جراحات برداشتند راپورعلاوه میکند متعاقبا قیودات منع عبورومرور در سرینګر وبعضي نقاط دیګرنافذ ګردید

دراجیودوژلوپه تورپنځوس شکمن کسان نیول شویدي

نوي دیلي :

دهند پولیسو دراجیو دوژلو په تور تراوسه پنځوس شکمن کسان نیولي، اویوه محکمه یي تشکیل کړي توڅو ددي پیښي په هکله تحقیقات وکړي .

دیل خبرله مخي دهندقانون وزیر په یوه مطبوعاتي مرکه کي ویلي چي موږ په فکرکوو چي پدغه جرم کي به دتامیل ټادوبوګوند اودتامیل پړانګان ملوث وي ، هغه وویل پدي هکله له موږسره پوره ثبوت هم شته خوتراوسه پدي باره کي څه نه وایو .

همداراز دغه وزیر زیاته کړه چي دلومړیو تحقیقاتو څخه داسي معلومیږي چي یوه ځوانه ښځه ددي جرم مسئولیت لري چي تراوسه پیژندل شوي نه ده له بلي خوا دکانګرس آي یوه غړي هم داخبره کړیده چي په دي پیښه کي تامیل پړانګان ککړدي ، ځکه هغوي فکرکاوه چي دراجیوپه حکومت کي هندي پوځ ، سریلانکاته ولیږل شو که چیري بوځل بیا راجیو راوړاندي شي نودتامیل دمستقل حکومت په لاره کي به خنډونه راپیداکړي .

دښځي دوجود دراټولو شویو ټوټو دیوځاي کولونه داسي معلومیږي چي دغه ښځه ۳۵ کلنه او څه باندي یونیم متر لوړقدلري او ژیروښتان لري داسي معلومیږي چي دغه ښځه به تامیلي وي .

31 نفرازملیشه هاي مسلح کیان درسمنګان به مجاهدین تسلیم شد

سمنګان - میدیا :

راپور هاي واصله ازولایت سمنګان مشعراست که ۳۱ نفر ازافراد مسلح ملیشه کیان به سرکردګي تورن فضل الرحمن رئیس ارکان ګندك ۶۱۳ فرقه ۸ ملیشه هاي مذکور به تاریخ ۲٤ ثوربه مجاهدین پیوستند .

ګزارش علاوه مي کند که ګروپ تسلیم شده برعلاوه سلاح دست داشته شان ده ها صندوق مرمي ومهمات سلاح هاي مختلف النوع رابه مجاهدین جبهه تسلیم کردند .

منبع مي افزاید که این سومین ګروپ ازملیشه هاي رژیم کابل است که طي دوهفته اخیر درمناطق مختلف ولایت سمنګان به مجاهدین پناه مي آورند .

په تنګي واغجان کي درژیم دوي پوستي وځپل شوي

لوګر - میدیا :

دلوګر له ولایت څخه په رارسیدلي خبرکي ویل کیږي چي تیره اونۍ مجاهدینو په ګډه په تنګي واغجان کي دمځدرژیم په پوستو درانده عملیات وکړل ، ددښمن ۱۲ تنه افسران اوملیشه یي مړه او ۱۷ نوریي سخت ټپیان کړل .

په خبرونو کي دعیني شاهدانوپه حواله ویل کیږي چي مجاهدینو ددي بریالي برید په نتیجه کي ددښمن دوي په اصطلاح امنیتي پوستي چي دسیدمحمود غازي له زیارت سره جوخت پرتي وي له منځه وړي دي .

او ۲۱ میله سپکه وسله یي ولجه کړیده . په خبرکي داهم راغلي چي پدي عملیاتوکي له مجاهدینو څخه دري تنه ټپیان شویدي .

په ننګرهارکي ددښمن په مرکزونوعملیات ترسره شول

ننګرهار - میدیا :

دننګرهار ولایت نه په رارسیدلي خبرکي ویل کیږي چي دتیري میاشتي په ۲۵ نیټه دجلال آباد په لویدیځ دسره رود په ولسوالي اوجنوب په قطرقي اوشرخیلو کي درژیم په مرکزونو باندي دمجاهدینو له خوا دغنیمت شوو ټانکونوپواسطه بریالي برید وشو اودښمن ته درانه ځاني اومالي زیانونه واوښتل .

په خبرکي زیاته شوي چي ددي عملیاتو په سبارژیم دغچ اخستلو په غرض دجت الوتکو پواسطه دروداتو ولسوالي ، دحصارشاهي دوسرکه اوډیبوي کنډو مرکزاوشاوخواکلي ترسختي بمبارۍ لاندي ونیول ،په دي پیښه کي کلیوالوته زیات مالي زیانونه رسیدلي اودمجاهدینو څخه داورنګ په نوم دمحاذملي سرګروپ اوشپږنه نورمجاهدین شهیدان شویدي .

اسرائیلو دجنګ داوربلیدلو ګواښ کړیدي

یروشلم :- اسرائیلو ګواښ کړیدي چي دسوریې اولبنان ترمنځ دمعاهدي له امله دلبنان په جنوب کي دجنګ داوربلیدو امکان شته ،داسرائیلو ددفاع وزیر ویلي چي اسرائیلو چي دلبنان په جنوب کي کومه امنیتي سیمه جوړه کړي ده دي معاهدي نه به هغي سیمي ته دخطر متوجه کیدواجازه ورنکړي .

باید ووایوچي څو ورځي مخکي دلبنان اوسوریې ترمنځ دسولي یوه تړون لاسلیك شوي ؤ.

ایران امریکا رابه کشتار شیعه هاي عراق متهم کرد

تهران - ۳ جوزا :

علي اکبرهاشمي رفسنجاني رئیس جمهور ایران روزجمعه اظهارداشت ایالات متحده به ارتش عراق اجازه کشتارشیعه هاي مقیم جنوب عراق را داده است .

موصوف که حین خطبه نمازجمعه سخنراني مي نمود ګفت : این کشتاروبیعدالتي ازخاطرات مردم فراموش نخواهد شد علاوه برآن اینکه آنها خودرا درلباس نیروي سازمان ملل جازده اند .

رفسنجاني ګفت : واشنګتن ومتحدانش به تحرکات نظامي ازجنوب به شمال عراق اقدام نمودند وبدینترتیب رژیم را به کشتار ملت عراق وبخصوص شیعه ها دست بازګذاشتند .

په هندکي ناآرامي زیاتي شویدي

دهلي ٤ دغبرګولي

په هندکي ناآرامي زیاتي شویدي.

هند په ماتم اخته دي اوحکومت دوژل شوي سیاسي مشر دتیري ورځي له جنازي څخه وروسته له خلکوڅخه غوښتي دي چي آرام اوسي.

په سلګونوملیونوهندیانو پخواني دهلي کي دجنازي په مراسموکي برخه واخیسته اویا یي هم په تلویزیون کي ننداره وکړه ،په دغو مراسموکي د څه دپاسه خلوویښتو هیوادونو مشرانو اومشهوروخلکو برخه اخیستي وه ، دراجیوګاندي شل کلن زوي راهول دخپل پلار دمړي کیدو اوریل کړ

دهند حکومت یوه هفته ماتم اعلان کړي دي.

په هندکي دراجیو له وژل کیدو وروسته سختي ناآرامي پیداشویدي اوپولیسو زیات کسان نیولي دي.

یك هزار تن افراد مسلح رژیم درولایت بغلان تسلیم مجاهدین شد.
وملیشه به هلاکت رسانید ه وتعداد را زخمي نمودند.
ګزارش مي افزاید که رژیم کابل در ولسوالي دوشي وختجان مناطق مسکوني اهالي بي دفاع را بمباري نموده خسارات مالي بي شماري رابه بار آورده است.

سونیاګاندي دکانګرس ګوندمشرتوب ونه مانه

دکانګرس اندراګوندډمشرټاکنه ددي خبري سخته کړي ده چي دهند له خپلواکي څخه را پدیخوا هغه ګوند دتل لپاره دنهرودکورني ترسیوري لاندي پاتي شوي وو اوس چي پدي کورني کي داسي څوك نه لیدل کیږي چي د یوهندي پیچلي ټولني په چلو لویي وس ورسیږي نودګوند دمشرد ټاکني مشکلات زیات شویدي . ددي اټکل له مخي چي دکانګرس ګوند به کورني ګوند ګرځیدلي وو نو دکانګرس دکاري کمیټي لمړي احساس داوو چي سونیاګاندي ته ددي دندي دوریه غاړه کولو دودوساتي ، اوس چي نوموړي ددي دندي دمنلو نه غاړه غړولي نو دبل چا ټاکل خوراعاجله خبره ګرځیدلي ده دکانګرس اندرا ګوند دمشرتابه لپاره نورځوړا ومناسب کسان لکه نارانسیمهاراو ،پروانا مکرجي اون ،دکواري ممکن پخپل منځ کي یوبل سره جوړنشي ، که څه هم دوي ټولو په لوړرتبه وزارتي چوکیوکي کارکړي اوبو هم دراجیو ګاندي په شان دخلکو ملاتړ له ځان سره نه لري .

دتشکیلاتي ډیموکراسي دنشت رالې له کبله دکانګرس ګوند په شاکیدونکي دي اودتیرو لسیزو شلو کلونو اوږدوکي په هغه ګوند کي دننه انتخابات نه دي ترسره شوي اوس نوداګوند یي مشره پاتي شوي او مرګندیږي چي بي هدفه هم وي ، که دکانګرس ګوند وغواړي چي خپل دریځ ترلاسه کړي اودیموازني ملي ګوند په توګه ولس ته ځان وړاندي کړي شي داخبره اوس ډیره ضروري ده چي له دي موقع څخه چي دګاندي دکورني سیوري درځخه په ټري کیدودي بوره ګټه واخلي .

په باره کي د تنظیم اتحاد...

څوك پدي ناوړه عمل ګیرشي دپیسو یوه دوه به جرم کیږي .

۲- مهربايد دشریعت مطابق واخستل شي یعني (۳۰) زره مهرچي په هغي کي به هم دلورخاوند خپلي لورته لازمه شیان اخلي اوهغه به هغي ته مصرفوي که چاخپله لورخرڅه کړه هغي ته به قانوني جزاورکړل کیږي .

۳- په وفوتو اوتوروخوشحالیوکي ډیډیك وږونه بندي که چاوکړل (...... ۱) روپي جرم به تسلیموي.

٤- چرس ، جواري ګیري ، بدمعاشي به بندي دي که چادغلو، چرسیانو، لاروهونکو سره لاس یو کي اوپاتي سوداګري ورسره وکړه ، ۵ زره جرم به تسلیموي .

۵- دجمعي په ورځ به له ۱۲ بجو څخه تر ۲ بجو دوکانونه بندوي اوکه کوم دوکان خلاص پیداشو ، ۱ روپي جرم به تسلیموي .

۶- دشپي له لوري که چاډیپك وړیوړنه کي ډیپك به يې ضبط دي به زنداني کیږي .

۷- په واده کي دڼغو سندري اونوري لوبي بندي دي اوکه څوك ګیرشول ... ٥ کلداري به جرم اوکه په هرمرتکي ونیول شي موټربه ضبط وي .

دغرمي په ۱۱ بجو اود ۳۰ دقیقو دسید عبدالستار " پادشاه " په دعاسره پاي ته ورسیده .

طي هفت سال اخیرپانزده هزارعسکرروسیه توسط اردوي آنکشورکشته شده است .

خانم اګریپ رئیس جامعه بین المللي حقوق بشر دراطریش روزګذشته با استناد به ګزارش جمع شده حقوق بشرروسیه ګفت : طي هفت سال اخیر پانزده هزارعسکرروسیه توسط اردوي این کشور به قتل رسیده است . رادیو ایران به نقل از آژانس خبري فرانسه ګزارش میدهدکه خانم اګریپ تاکید کرد ایجاد وحشت و ارعاب ،خشونت وشکنجه هاي جسمي وروحي از اعمال روزمره اردوي روسیه محسوب مي شود. وي افزود کمسیون حقوق بشرروسیه در ۲٤ دسمبر سال ۱۹۹۰ میلادي طي انتشار خبرانداخته شدن یك عسکر جوان روسیه در داخل یك دستګاه توسط مافوق خود ، تشکیل ګردید خانم اګریپ رئیس جامعه بین المللي حقوق بشردراطریش اظهار داشت باوجود آنکه دولت روسیه ازوقوع چنین حوادث در کشور اظهار نګراني نموده اما تاکنون اقدام مؤثري درین مورد به عمل نیاورده است .

قابل توجه

به اطلاع عموم علاقه مندان تربیه اسلامي رسانیده مي شود که معهدعالي تربیه اسلامي عمرفاروق (رض) که داراي منهج تدریسي کلیه متوسطه است براي سال آینده تعلیمي خویش شاګرد مي پذیرد . شائقین محترم تربیه اسلامي که واجد شرائط ذیل باشند میتوانند ازتاریخ ٤ جوزا الي ۲۳ جوزا سال جاري به اداره معهد جهت ثبت نام مراجعه نمایند .

۱- فراغت ازصنف دوازدهم ویاداشتن سویه علمي معادل آن

۲- داشتن تزکیه یکي ازتنظیم هاي اسلامي

۳- داشتن عمر ۱۸ - ۲۵ سال

٤- سه قطعه فوتو با تصویر کارت تنظیم مربوط

امتحان کانکور درهفته اول ماه سنبله که روز معین آن بعداً تعین واعلان خواهد شد ګرفته مي شود .

آدرس : پشاور - ورسك نمبر ۲ معهد عالي تربیه اسلامي عمر فاروق (رض)